د خوشحال خټک د مړینې د دریم سوې
کالیزې په مناسبت

لیلی او مجنون

د
سکندر خټک

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو انستیتوت
۱۳۵۸

لیلی او مجنون

د

سکندر خټک

د څېړنوال دوست شینواري په سریزه او تصحیح
مهتمم: محمد شیرین سنګری

د افغانستان د علومو اکاډیمي
د ژبو او ادبیاتو انستیتیوت

د چاپ شمیر ۱۰۰۰ ټوکه
۱۳۵۸

نقلوونکي : څېړنمل محمد عارف غروال

او څېړنیار عبدالواجد واجد

سریزه

د لیلی او مجنون قصه د شرق په ادب کې ډېر شهرت لري. د دغه قصه د شرقي جهان په ډېرو ژبو شاعرانو او ادیبانو په نظم او نثر لیکلې ده. په پښتو ادب کې هم د لیلی او مجنون د قصې شفاهي او تحریري شکل موږ پیدا کولای شو.

په تحریري ادب کې د لیلی او مجنون قصه له اولسي شاعرانو پرته شپږو تنو هم په نظم کړې او د کتاب په شکل شته او زموږ د ادبیاتو د تاریخ په څېړنو کې ترې استفاده کېږي.

په دغو شپږو تنو کې سکندرخان خټک لومړی شاعر دی چې د لیلی او مجنون مثنوي یې په ۱۰۹۰ هـ.ق. کال نظم کړې ده. د سکندرخان لیلی او مجنون نه یوازې دا چې د پښتو د لیلی مجنون په قصو کې لومړۍ قصه ده، بلکې د پښتو په لاس ته راغلو تحریري قصو کې هم لومړۍ قصه ګڼل کېږي، ځکه، کومې تحریري قصې چې تر اوسه زموږ لاس ته راغلي دي یوه هم د سکندرخان خټک له قصې نه مخکېنی تاریخ نه لري.

د سکندرخان خټک د لیلی او مجنون قصه تقریباً ۱۰۵ کاله مخکې په ۱۳۹۴ هـ.ق. کال په ډهلي کې د کتاب د چاپ له خوا خپره شوې ده خو، دا چې دغه متن اوس پیدا کېده او [illegible] د دې قصې د یوه اکاډمیک متن برابرولو ته ضرورت و، نو ځکه د اوسني متن د سکندرخان خټک د لیلی مجنون د قصې قلمي نسخې له مېکروفلم څخه برابر شو چې اصلي نسخه یې د ډهلي په موزیم کې شامل کړې.

خپرندویه ټولنه د پښتو ادب او فولکلور څانګې د همکارانو په وسیله چې متن چمتو کړ، قلم نه وانستل او ځایي [illegible] ته مناسبه کړه، مقدمه او لغت نامه یې ورته ولیکله او له متن سره یو ځای یې او پښتو کره وړاندې کېږي.

د خوښۍ ځای دا دی چې د دغه موږ دا متن خپرولو له چاپه ورانو او خپرولو چې زموږ د انقلابي دولت په لاس خپرونه د پښتو د زمانې شاعر او د سکندر خټک د پلار خوشحال خټک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ.ق.) د مړینې د دې سوم کالیزه لمانځل کېږي.

د ژبو او ادبیاتو انسټیټیوټ رییس خپرندویه کمیټه سعدالله پولاد

۱۳۵۸/۱/۱۳

PROPERTY OF ACKU
6286

دليلي او مجنون قصې ته يوه کتنه

دليلي او مجنون رومانتيکه قصه دختيځ په ټولو مسلمانو اولسونو کې خپره ده.
دغه قصه چې اصلاً عربي فولکلوريکه مبدأ لري، دلته داسلام له راتګه وروسته دعربي
نورو شئوناتو په شان خپره شوې، له يوې خولې نه بلې ته او له يوه کتابه بل ته نقل شوې ده.
د دغې قصې په نظم او ترتيب کې دپښتو، فارسي، دري، اردو، اوزبکي، ترکي، آذربايجاني
کوردي او د نورو ژبو شاعرانو خپل قلمي زور ښکاره کړی او په خوږو خوږو نغمو يې
ليکلې ده. د يوه فيلسوف داخبره ښځې سمه ده چې وايي: «هر اولس کولای شي له بل
اولس څخه څه زده کړي».

په عربي ژبه کې :

په عربو کې دليلي او مجنون قصه د اسلامي عصر د پيل نه لږ څه د مخه منځ ته راغلې
چې بيا وروسته يې انکشاف وکړ. داوخت دنړۍ په دې سيمه کې په اقتصادي او اجتماعي
لحاظ دټولنې په جوړښت کې زيات تو پير منځ ته راغلی، خصوصاً په ښارونو کې بډايو او
دلوړپوړ او سيدونکو ته دسرفه ژوند شرايط برابر شوي وو او په کليو او واديو کې
بدوي ژوند دوام درلود.

دسرفه ژوند خاوندانو دعشقي اشعارو په جوړولو ساعت تيراوه او په عام، خصوصاً
باديه نشين اولس کې بيوزلي او فقرحاکم وو او داقتصادله سخيې دوسره وخت نه لاره چې د ډ
ژوند له باره وتلي او دشعر او شاعرۍ شغل ته اوزګار شي .

همدغه وخت وچې په عربي ادبیاتو کې روما نتیکک نقلونه پید ا شول او ډیر زیا ت انکشاف یې وکړ. په همدغه دوره کې دعربي ژبې په ادبیاتو کې فصاحت او بلاغت لوړ مقام ونیو او فصیحو او بلیغو شاعرانو په ټوله عربي نړۍ کې زیات تاریخي شهرت پید ا کړ . بالاخره ددوی دادبي مقابلو او مشاعرو ځای خپله مکه معظمه وګرځید ه، چې هغه وخت دعربي نړۍ کلتوري مرکزو، عربي سترو شاعرانو به خپل اشعار د هغې په د یوا لونو ځوړندول او دلوستونکو بازار به پرې ګرم و، چې یوه بېلګه نمونه یې «سبعة المعلقه» د ه .

ددغسې شاعرانو په جمله کې چې ددوی دمینې په باب افساني جوړې شوې دي جمیل ابن معمر قیصر، قیس ابن ملوح او داسې نور نوره هم چاچې زیات شهرت لري . خو ورو په وروسته د غو تاریخي مینو چې ددوی په اشعارو کې منعکسې وې افسانوي رنګ پیدا کړ چې د هغو په جمله کې دلیلی او مجنون افسانه هم په دغه شان جوړه شوه .

ابن الندیم په خپل کتاب «الفهرست» کې د(مجنون ـ لیلی) په نامه د یوه کتاب یا دونه کړې ده، خودغه کتاب زموږ تر وخته نه دی را رسیدلی. لومړی لیکلي معلومات چې په دې باب موجود دی او زموږ تر وخته را رسید لی دي هغه دابومحمد عبد الله ابن مسلم ابن قتیبه الدینوری (وفات ۲۷۶ ه ق) لیکنې دي چې په (کتاب الشعر والشعراء) کې درج دی. دغه مؤلف چې په دغه کتاب کې یې دعربو دلرغونو اشعارو نمونې را ټولې کړي یو فصل دقیس عامري دحالاتو او اشعارو په باب لیکلی او په لنډه توګه یې ددهٔ اشعار او حالا ت اخیستي دي. ددهٔ لیکنو ښکاري چې حتی لا په دریمه هجري پیړۍ کې دقیس عامري (مجنون) د شخصیت په باب روایتونه ضد او نقیض او یو تر بله زیات مخالف وو: مثلاً ځینو روا یتونو یې نوم (قیس ابن سواد) او ځینو نورو (مهدی ابن ملوح) بللی، قوم یې ابن جعد ابن کعب ابن ربیعه ابن عامر ابن صعصعه (په بل روایت ابن عقیل، ابن کعب، ابن ربیعه) دی. (۱)

ددغه کتاب له مخې لیلی او مجنون له وړوکتوبه سره غاروی پوول، یو له بله سره

---

۱ ـ (دعبدالرحمان جامي دلیلی او مجنون . . . .) (۵) مخ .

سخت عاشقان‌شول، په‌مجنون عشق دوسره زورو کړ چې لیوني شو، له وګړوو تښتید او له‌ځناورو او ځنګلي ژو یوسره سیشت‌شو، دمجنون پلارلیلی دخپل زوی (مجنون) لـه پاره وغوښته، دلیلی پلاردمجنون دلیونتوب او دنجدپه‌غر ونوکې د خوشې ګرځید وله امله ده‌ته دلیلی له‌ورکولو څخه انکاروکړ. مجنون ته‌د لیلی دراوستلو په باب دنوفل کوشش او دمجنون دپلاربیوزلی او نوردلته‌یاد شوي او دمجنون داشعارونمونې‌درج‌دي.

د دریمې هجري پیړی بل مؤلف ابوالفرج علی ابن الحسین‌ابن محمدابن‌احمدالقریشی (په ۲۸۳ ه ق کی وفات) دخپل(الاغاني) نومې کتاب په‌لومړي او د ریم ټوک‌کې پـه لیلی باندې دعاشق (قیس) په‌باب مخصوص فصلونه لیکلی دي چې دابن‌قتیبه په‌نسبت زیا ت احوال په‌کې‌درج دي او په عین حال‌کې دهغه له‌راویتونو څخه زیات مخالف دي . ابو الفرج دمجنون نسب داسې ښي:

(قیس‌ابن‌ملوح‌ابن‌مزاحم‌ابن‌عدس‌ابن‌ربیعه‌ابن جعدابن‌کعب‌ابن‌ربیعه ابن‌عامرابن سعسعه) دغه مؤلف په‌خپل کتاب‌کې دمجنون په‌باب بیل بېل روا یتونه رااخیستی دي. دی له ایوب‌ابن‌ابایه څخه نقل کوی چې هغه ماته ویلی دي:

ما دبنی‌عامر دقبیلی‌له‌فردفرڅخه‌دمجنون‌په‌باب معلومات وغوښتل، خو د اسې څوک مې پیدا نکړل چې مجنون‌یې پیژ انده». په‌همدغه بر خه‌کې روا یت کوی چې چاله عیسی ابن‌دعب‌نه‌پوښتنه وکړه‌چې:« ایامجنون پیژ نې؟ او دهغه کوم‌شعر دې‌په‌یاددی؟»ځواب‌یې ورکړه : « مګرموږدهوښیارانو ټول شعرونه په یاد کړي دي چې اوس د لیونیو اشعارپه یاد کړو، لیونی خوډیر دی.»

پوښتونکی وویل:« زمامقصود دبنی‌عامر هغه مجنون شاعر دی‌چې عشق ووا ژه. » په‌ځواب کې‌یې‌وویل: « افسوس چې بنی‌عامر یا ن هغه سخت زړی دي چې عشق یې نه شي‌وژلای.» (۱)

۱ــ (دعبدالرحمان‌جامی دلیلی او مجنون داستان)(۶) مخ.

دابن‌الاعرابی (وفات ۲۳۱) او دابن‌الکلبی(وفات ۱۴۷) له‌روایتونو څخه معلو میږی چې مجنون دکوم تاریخی شخص نوم نه‌و. دابن‌الکلبی په‌روایت: «دمجنون قصه او دهغه اشعاردبنی امیه یوه سروانی زلمی جوړکړي دي چې دخپل تره په لورمین وا وپه دغه نامه یې خپل‌ځان پټساتلی دی» دغسي روایتونه زښت ډیردي چې دابوالفرج د روایت په‌شان دمجنون دتاریخی شخصیت نه‌انکارکوي او راویان یې دمیلادي اتمې‌،نهمی پېړی عرب مؤلفین دي.

دلیلی اومجنون‌په‌قصه‌کې د(الاغانی) مؤلف‌د«کتاب الشعروالشعراء» دکتاب‌په نسبت لاندینی برخې زیاتې راوړي دي:

۱ــ دلیلی‌لقب«ام‌مالک»و.

۲ــ مجنون‌په‌تصادفي‌ډول لیلی دزیاتو ښځو په منځ کې لید لې او پری مین شوی و. دهغې دغوښتلوسرکه‌یې وروستوله خودغه وخت وردهالعقیلی هم دلیلی د غوښتلو لپاره سرکه وراستولې وه. لیلی دویم شخص انتخاب کړ.

۳ــ دسفرپه‌وخت‌کې مجنون دډیروښځو په ډله‌کې کریمه نومې پیغله ولیده او پرې مین شو، خودهغې له‌بې التفاتی څخه خوابدی شو اودبلې په‌لټه کې‌شو، لیلی یې پیدا‌ کړه هغی ته‌یې‌خپل عشق اومحبت اظهارکړل اوواقعي عشق یې ورسره پیدا شو..

۴ــ دمجنون پلاریوځل خپل زوی دلیلی دپلارکورته دځه‌کارله پاره وا ستا وه، هلته دوی‌سره زیات محبت پیدا کړ.

۵ــ دلیلی دواده نه‌وروسته مجنون ورسره دیوې‌ګا ونډی پیغلې په ذ ریعه ارتباط ساته.

۶ ــ دمجنون پلارد هغه له لیونتوب څخه دمخه مړ شوی و.

۷ــ مجنون یوځل بیا دلیلی سره په د ا سې وخت‌کې وکتل چې د هغې مورا و پلا ر حاضر نه‌وو.

٨– زياتو پېغلو لەمجنون څخه غوښتل چې واده ور سره وکړي خو هغه دا غوښتنه نهمنله.

٩– مجنون دليلى نەدمخه سړشو او ليلى دهغه دمړينى مراسم پهځاى كړل. (١)

علاوه پردغو دالمبارز(وفات ٢٨٥ ه ق)، الكامل،(دداود الظاهري(وفات٢٩٧) پسه (كتاب الزهر)، دالوشاع (وفات٣٢٥) په(كتاب المرصع) كې هم دليلى اومجنون دحالاتو پهباب روايتونه شته خو دغه روايتونه دابن قتيبهاوابو الفرج پهنسبت لږ څه زياتوالى لري.

دليلى اومجنون دموضوع پهتاريخى سير كې دابوبكر والبي(وفات يو ولسمه ميلادي) لەخوا د قيس عامري داشعارو شرح هم خاص اهميت لري: ددهپهقول ليلى او مجنون لا له هغه وخته سرهاشنايان او بيا عاشقان شول چې دمېږو او پسونو پهڅرولو بوخت وو. په دغه اثر كې دغه يادونې دپام وړدي:

١– دليلى پلار دمجنون لەلاسه ددغه عشق لهامله دخپل وخت خليفه تەشكايت وكړ

٢– دمجنون پلار دمجنون لەپاره دخپلې قبيلې يوه پيغله واده كړه.

٣– دليونتوب دعلاج لەپاره دمجنون پلار هغه بابل ته بوت.

٤– عبدالمالك بن مروان دمجنون دليونى عشق اوازه واوريدله، او هغه يې خپل ځان ته وغوښت.

٥– دليلى دپلارلەخوا دخيښې له پاره دمجنون دپلارسركه ځكه ر د شوه چې د دوى دعشق هنگامه دهيواد هرگوټ تەرسيدلې او دخپلې قبيلې سپكاوى يې گا ڼه.

٦– دليلى په خاطر دهوسۍ خوشې كول، د ليوه سره جگړه كول، ا لوتونكو ته دزړه رازويل داهم دمجنون پهباب دداستان زياتې لحظى دي.

٧– يوه ثقيفي زلمي دليلى سره واده وكړ، ليلى مړه شوه، پهبيابان كې دگرځيدو په وخت

١– (دعبدالرحمان جامي. . . . .) (٧) مخ .

کې مجنون له‌دوو سپرو سره مخامخ شو، له‌هغو څخه یې دلیلی دمرګ‌خبر واورید، له هغو څخه یې‌هیله وکړه چې دې‌دلیلی ترقبره بوځي، هغوی دده داهیله ترسره کړه،مجنون دلیلی په‌قبر ځان وغورځاوه او ځای په‌ځای مړ شو. (۱)

دلیلی او مجنون افسانه دعربي اولسی عشق سره تینګه رابطه لري خو دغې قصې په عربي لیکلو ادبیاتو کی بیاو روسته پراختیا نه‌ده کړې او حتی په (۱٦ع) پیړی کې هم د داو دالانطاقی په‌خپل کتاب «تزیین‌الاسواق» کې په دې باب‌تقریباً څه‌هم‌نه‌دی‌زیات کړي.

داهم باید وویل شي چې په‌عربي‌ادبیاتو کې په‌دې باب کوم بشپړ منظوم یا منثور داستان‌نه‌دی‌لیکل‌شوی، بلکې دغې‌افسانې‌ته‌دختیځ غیرعربي‌مسلمانو اولسونو زیات اثار وقف شوي او ددوی په فولکلوري ادبیاتو کې‌مهم‌ځای لري‌چې‌مبدایې‌هماغه‌عربي‌روایات دی.

ددغسې‌ګڼو ډو اوضد او نقیضو روایاتو په‌رڼا کې داګرانه ده چې وواېو مجنون کوم تاریخی شخص واو که افسانوي؟ که‌تاریخي‌شخص هم وي‌له‌هغه څخه‌افسانوي‌روایاتو او قصو افسانوي‌شخص‌جوړ کړی‌دی. هم‌دغه‌شان فکردلیلی په‌باب هم کیږی. دلیلی‌او مجنون‌قصې دنوروتو لوژ بوپه‌نسبت‌په‌پښتو، فارسي، دری‌ادبیاتواوفلکلور کې‌زښته‌ډیره‌پراختیامو ندلی‌ده.

څرنګه چې دغه داستان دپښتو په نسبت په‌فارسي ادبیاتو کې تریوې اندازې‌قدامت‌لري نو بې‌ځایه نه‌ده چې یوه لنډه رڼاپرې واچوله شي:

په دری او فارسی ادب کې :

د رودکي نه‌نیولې زیږ ترو څته به د دري داسې شاعر نه‌وي چې دده‌په‌دیوان کې به‌دلیلی او مجنون نوم‌نه‌وي یاد شوي، خو دداستان په‌صورت‌یې د جوړولو تاریخ وروسته دی: په دری ادب کې لومړی ځل د لیلی او مجنون د لیونی مینی د سرګذشت یادونه ابوالمجدسنایي په(۱۱٦۱م)یا(۱۱۵۰م کې وفات)دخپل کتاب «حدیقة الحقیقة» د «فی‌تحقیق‌العشق» په‌باب کې کړی ده‌چې داسی پیل شوې :

۱- (دعبدالرحمان‌جامي ....) (۸) مخ .

آن‌شنیدي که‌درعرب‌مجنون بود بر لیلی آن‌چنان‌مفتون . . . .

په دری ادب کې دغه قصه په‌دولسمه میلادي پیړی کې زیاته مشهوره شوه او په همدغه پیړی کې‌نظامی گنجوی دیوه داستان په‌بڼه ترتیب کړه چې له‌ځلور وزرو څخه زیات بیتونه لری. دداستان دمنبع په‌باب نظامي څه‌نه‌دي ویلي خود محققینو په عقیده ده په‌(الاغاني» کی دقیس عامری په‌اشعارو او په‌داسی نورو اثارو اتکا کړې ده .

نظامی په‌دې باب دپخوانیو روایتونو بیلې‌بیلې لارې سره یوځای کړی ،هغوته یې ربط ورکړی او له‌ځانه‌یې ورکې زیادتونه کړي دی.

له‌دغه وخته وروسته په دری اد بیاتو کې دلیلی او مجنون نوموونه ډیر زیات شول . مثلاً که‌دسیدحسن غزنوی (ملقب‌په‌اشرف) په‌(۱۱۵۳م‌مړ) په‌دیوان کې‌یوازي د وه‌ځایه دلیلی اومجنون نوموونه ذکر شوي وو، نو دمصلح الدین سعدی په‌اثارو کې د مجنون نوم (۳۸) ځله، دلیلی‌نوم(۳۵)ځله راغلی‌دی، حال داچې تر دغه وخته په‌دري ادب کې د مینې‌اومحبت نور قهرمانان هم‌زیات وو او هغوی دسعدی په‌اثارو کې داسې راغلی دي :

وامق‌اوعذرا(۹)ځله،فرهاداوشیرین(۳۲)ځله، زلیخا(۶)ځله، خسرو یوځل(۱) له دغه شمیر څخه معلومیږی چې دسعدی په‌چاپیریال کې دغه دمینې قهرمانان یعنی لیلی او مجنون زیات مشهور وو.

شیخ‌فریدالدین‌عطار په خپلو عرفاني قصیدو (الهی‌نامه) او (مصیبت نامه) کې د خپلو تصوفي‌تمثیلو نوله پاره تقریباً پنځه‌ویشت‌روایتونه دځانگړو حکایتونو په‌ډول په‌دې‌باب راوړي دي چې نژدې شپږ سوه‌بیتونه کیږي او که هغه ټول سره یوځای شي‌تقریباً یو بشپړ داستان به‌ورنه جوړشي. عطار هرځای‌دمجنون حالات تصویروی او دلیلی نوم‌ده په خوله‌یادوی او دمجنون عشق‌ته‌تصوفي تصویر ورکوي، دعاشق او معشوقې له‌یووالی څخه د(وحدت‌الوجود) غایه او نتیجه اخلي. دغسې تصویر او غایه په دری ادب کې

(۱)(دعبدالرحمان‌جامي . . . . .) (۲۲)مخ .

ځای په ځای دلیلی او مجنون له سرگذشت څخه اخیستل شوې او دغه تصو یراو غایې له څېنو محققنو لکه د، ی.ی. بیر تیلس سره داعقیده پیدا کړې چې په دري ادب کې دلیلی او مجنون دقصې عمومیت دتصوف له لارې پیدا شوی دی. (۱)

جلال الدین بلخي هم په خپلو صوفیانه اشعارو کې خو ځایه دلیلی او مجنون مینې او محبت ته صوفیانه رنگ ورکړی دی او شپږ ځایه یې ددوی دقصې شپږ لحظی یادې کړي دي چې دشیخ عطار په شان یې صوفیانه غایه او هدف ورنه اخیستی دی.

د دیار لسمې پیړۍ په پای کې د لیلی او مجنون داستان یو نوی روح پیدا کړ:

امیر خسرو بلخي په هند کې د(لیلی و مجنون) مشهور داستان ولیکه.

خسرو بلخي اعتراف کړی چې په دغه داستان کې یې دنظامي گنجوي پیروي کړې ده او دغه دوه داستانونه دمحتوا له مخې بیخي سره نژدې دي، یوازې خسرو دنظامي د داستان څېنې برخې اختصار کړي او څېنې یې بالعکس اوږدې کړې دي.(۲)

په خوارلسمه پیړۍ کې دلیلی او مجنون کوم بشپړ او ځانگړی داستان نه دی جوړ شوی .

په پنځلسمه پیړۍ کې دغې قصې زیات شهرت وموند او دتیر وخت په نسبت په دري ادبیاتو کې بیخي عامه شوه. دهمدغې پیړۍ په سر کې دفارسي ادب څېنو شاعرانو لکه مولاناشرف(۹۵۴م کې مړ)داعي شیرازي (په۱۴۶۴م کی مړ) ، سلیمي (په۱۴۷۳م کې مړ) په څېنو روایتونو دغه قصه لیکلې وه. خو دداعي او سلیمي دقصو په باب له روایتونو څخه پرته نور مواد په لاس کې نشته.

دپنځلسمې پیړۍ په پای کې یوازې په هرات کې دریو تنو دغه قصه منظومه کړه چې هغه عبدالرحمان جامی ، امیر نظام الدین احمد سهیلی او علی شیر نوایي دي. او په دغه صورت دغه قصه ډیر زر په ادبي خلقو کې خپره شوه.

۱— (دعبدالرحمان جامی . . . . .)(۲۲)مخ.

۲— (دعبدالرحمان . . . . (۲۹) مخ.

په پنځلسمه پیړۍ کې له لسو څخه زیات د(لیلی او مجنون) داستانونه لیکل شوي دي چې په تېرلو کې د جامي له خوا لیکل شوی داستان ډېر خوږ دی او له هغه وروسته د نوایي هاتفي هروی قصې د پام وړ دي چې او ریژینالاړ خو نه یې زیات دي. جامي په زیاتو سوارد وکې له عربي منابعو څخه کار اخیستی دی خو نورو کله د خسرو او کله د نظامي له داستانو څخه استفاده کړې ده(۱) .

د قاسم مشالي او هلالي مکتبي شیرازی لیلی او مجنون هم دیادوني وړدي، خو د جامي « لیلی او مجنون» په ادبي لحاظ خاص مقام لري.

دغه قصه فضولی بغدادي، شاهدی، حمدالله، علي شیر نوایي او ځینو نورو شاعرانو په ترکي ژبه هم اړولې ده.

په پښتو ادب کې لیلی او مجنون :

د پښتو ادب په هغو نمونه یي اشعارو کې چې د پټې خزانې مؤلف په «لومړۍ خزانه» کې رااخیستي سو ړ د لیلی اا و مجنون نوم نه ګوړو. په خیر البیان او روښاني رساله کې چې فقهي او تصوفي مسایل په کې راغلي دي که څه هم د تصوف له مخې وي خو د لیلی او مجنون نوم نه دی راغلی. همدارنګه په روښاني نورو اثارو (میرزاخان، دولت، ارزاني، واصل) او ددرویزه او دهغه د سریدانو په اثارو کې دغو نوموسو نو عمومیت نه دی پیدا کړی او ډېر لږ لیدل کیږي(۲) او له دغه ځایه سوړ ګورو چې پښتو ادب ته د تصوف له لارې د لیلی او مجنون نوموسونه نه دي ننوتي.

د خوشحال په اشعارو کې د مینې او محبت د قهرمانانو په حیث د غو نوموسو نو زیات عمومیت

---

(۱) د عبدالرحمان جامی (۳۲—۳۷) مخونه .

(۲) میرزاخان یو ځای لیکي:

دلیلی دسادګی نهایت نشته	دښایست صفت به یې څرنګه مجنون کا

(دديوان ٥ ۲مخ)

پیدا کړی‌دی. مثلاً دخوشحال په‌یوازې‌پښتو غزلونو کې دمجنون نوم(۳۹) ځایه او دلیلی‌نوم(۱۸) ځایه راغلی دی اوله‌دې وروسته په‌پښتوادب کې دغه نومونه بیخی عام شوي دي.

خودمنظوم داستان‌په‌حیث په‌پښتو ادبیاتو کې‌چې تراوسه زموږتروخته را رسید لې دي دخوشحال خان دزوی سکندرخان‌ختک داستان ترټولو دمخه دی. په‌پښتوادب کې تر اوسه دلیلی اومجنون بشپړه‌قصه‌چې ما ته معلوم‌دی (شپږو) کسانو لیکلې ده اوهغه‌دادي:

۱—دسکندرختک (لیلی اومجنون) چې وروسته به‌یې رڼاواچو و:

۲—دحافظ نظام لیلی او مجنون :

د و رکې خزانې د مؤلف همیش خلیل په قول د غه قصه (۱۶۱۳)بیتونه لري اوپه (۱۱۰۰هـ، ق) کې پای ته رسید لې ده‌لکه چې خپله مؤلف وایي:

نوم یې‌څه‌ږدم‌لیلی‌مجنون دی * له‌دغه‌اسمه‌تاریخ‌بیرون دی

خو پنځه‌ځله دې تکرارکا * یاځلورحرفه‌دغم‌دې‌شمارکا

په‌دغه‌معما کې که‌موږد(لیلی) دنامه وروستی توری(ی) د تلفظ له‌مخې په(الف) وشمیرو نود(لیلی‌اومجنون)توری‌دابجدپه‌حساب(۲۲۰)کیږی‌چې‌پنځه‌ځله تکراریې(۱۱۰۰) کال کیږی او داهماغه دخوشحال‌ختک دمړینې کال دی. او په‌دې حساب حافظ نظام د خوشحال ختک هم‌عصری دی، چې همدغه سنه ښاغلی همیش خلیل اخیستی ده.

او که‌د(لیلی) دنامه وروستی توری(ی) ونیسو لکه چې لیکل کیږی نو په‌دې حساب دغه سنه (۱۱۳۶) ته رسیږی.

دحافظ نظام‌دلیلی‌اومجنون‌بشپړمتن نه چاپ‌اونه قلمي‌زمالاس‌ته راغلی‌نه دی .دهغه یوه برخه(دورکې‌خزانې) په‌لومړي ټوک کې اخیستل شوې ده.

د پښتو نورزیات داستانونه په داسې عروضو لیکل شوي دي چې هره مصرع یې

(۱۲) څپې (سيلابه) دهچې ټول بيت(۲۴) څپې کيږى لکه د عبدالقادرخټک يوسف او زليخا د سکندرخټک ليلى او مجنون، درحمت داوى ليلى او مجنون دفياض بهرام او ګل اندامه او داسې نور . خو دحافظ نظام ليلى او مجنون ددې ټولو پهعکس پهلس سيلا بهعروض ليکل شوې چې هر بيت يې شل څپې دى او ټول له پهمثنوي توګه نظم شوېده . لکه د غه بيتونه چې د عشق نه دسنځ کولو پهوخت کې ليلى دخپلى مور په ځواب کې وايي :

سورې عشق څهدى او عاشق څوک دى	داسعشوقه تر و لاکومه توک دى
عشق نوم دګل دى کهيې دخاردى	يانوم د د هر که د د ياردى
دانوم دښبودى ياد خوراک دى	ياڅهښا دي ده ياڅه پسخاک دى
سوراوړ يد لى دغه نام نه دى	داهسې لفظدى ،سورې عام نه دى

همدغه مطلب سکندرخټک پهدې عبارت راوړى دى:

عاشق څهمعشوقه څهدى نهپوهېږم	ز ه هلکه لا په مينه څه يو هېږم
راتهوښايهعشق ګل د نوبهاردى	عشق کهسردى کهافسر دى که د ستاردى
عشق څراغ دى ساتهوايه کهپتنګ دى	عشق بلبل دى کهتورسپين دى کهبل رنګ دى
عشق هاتي دى کهتورديودى کهزسرى دى	عشق سوراوردى کهبلادى که پيرى دى.

۳- د بايي خان ليلى او مجنون:

ددغې قصې متن پهلاس کې نهشته، خو دراورتې په قول (د پښتو ګراسر مقدمه) دغهليلى او مجنون دجامى دليلى مجنون نهترجمهشوى دى.

راورتي ددغهداستان يو ازې يو بيت راوړى دى او هغهدادى:

له دې خپلې بدې بخرې چا ته ژاړم چاتهدادکړم

لهدغهبيته(کهنورکتاب هم پهدغهشان ليکل شوى وي)لهيوې خواليدل کيږى چې په لنډبحر (۸+۸) ليکل شوى او لهبلې خوا ښکارى چې مثنوى نه ده.د پښتانه شعرا(لومړى ټوک)پهقول بايي خان دبونير او سيدونکى د(۱۱۰۰ ه ق) په خوا او شا کې ژوندى و او عبدالرحيم هوتک د خوشحال خان سره پهيوه رديف کې يادکړى دى لکه چې وايي:

کهسي ناړي د تا تيرې کړې ترستو ني　　　پير کاسل په دختک او بابي خانشم (۱)

۴- درحمت داوي ليلى او مجنون :

رحمت د ا و ي چې پو ره نوم يې رحمت الله دى د پښتويو تکړه شاعراو ديوه بشپړ ديوان خاوندى چې په «و ر که خز انه » کې يې د ا شعارو يوه لويه برخه اخيستل شوېده. دى په اصل د کندهار او سيدو نکى ، داحمدشاه بابا، تيمو رشاه او شاهزمان په وختو کې ژوندى و. دهميش خليل په اټکل دغه شاعر په (۱۱۵۶ ه ق) کې زيږ يدلى دى .

درحمت داوي له اشعا رو معلوميږى چې په کندهار کې يې د پو ره بيو زلى عمرتير کړى (۲) خو بيا دشا ز ما ن په وختو کشميرته تللى چې هلته سردارعبدالله حاکم و، او هلته يې ژوند څه اندازه ارام شوى دى او خپل «ليلى او مجنون» د ا ستان يې هما غلته په کشمير کې د نظا مى گنجوى دداستان له مخې په پښتو خوا ږه نظم اړولى دى او هغه يې شاه زمان ته اهدا کړى دى. په دغه «ليلى او مجنون» کې دى وايي چې زما دخلو رو پنځو کلو نوزوى چې «احمدى نو ميده مړ شو او دهغه دغم دغلطو لو له پاره ما اراده و کړه چې «ليلى او مجنون» په پښتو و اړ م. دامطلب داسې افاده کوي:

غمو ملک را باندې تنګ کړ　　　زړه مې څکه د اا هنګ کړ
چې پښتو ليلى مجنو ن کړ م　　　ښايي غم له زړه بيرو ن کړ م
سلطنت د شا ه ز ما ن دى　　　دى خاقا ن ابن خاقان دى
پلار نيکه يې با د شاهان و و　　　د و يه تا ج د هر افغان و و
سر د ا ر ى د عبد ا لله د ه　　　خلقه و ا ړ ه ا ګا ه د ه
د کشمير ملک يې رو ښا ن کړ　　　و رک يې ظلم له جها ن کړ (۳)

ددغه کتاب يو ه قلمى نسخه د پښتو ټولنې په کتابتون کې خو نديږده چې دسر کو م مخ يا

---

۱ – «پښتانه شعر ا» لومړى ټوک ۲ – و ر که خز انه دو يم ټو ک

۲ – دليلى او مجنو ن قلمى نسخه – دسر بر خه

مخونه یې نښته، حمدیه برخه یې له سنځه تللې او له نعتیه برخې و روسته ښته .

د کتاب و روستی مخونه یې هم نه ښته او په سنځ کې یې هم ځای په ځای برخې نیمګړې ښکاری. دموجوده مخونو شمیر یې (۳۴۴) دی، په هر مخ کې یې په متوسط ډول (۱۱) بیتونه ځای شوی چې په دغه حساب ددغې نیمګړې نسخې د بیتونو شمیر نژدې څلورزره او نهه سوه ته رسیږی.

داسې معلومیږی چې رحمت داوي ته به په پښتو ژبه دلیلی او مجنون کوم داستان نه وی رسیدلی لکه چې وایي:

اوس که غم که څه خندا ده   چې سې کړې ابتداء ده
پر یښوول یې را ته عاردی   انتها ته سې تلواردی
بل هم داده زما وروره   ای زما د سترګو توره
په فارسي هر چا ویلې   په پښتونه ده چالید لې
څکه زه په پښتو ژبه   دا قصه کړم عجا یبه

په ((۴۰۳)) مخ کې د کتاب دلیکلو سنه داسې ښیء:

که سنه غواړې ای یاره   ته یې غوږ کړه ای هوښیاره
رښتیا وایم بې دروغ   له «دروغ» سنه د دروغ

دابجد په حساب «دروغ» (۱۲۱۰) کیږی.

د رحمت داوي «لیلی او مجنون» په لنډ بحر یعنې (۸+۸) څپو لیکل شوې او عبارت یې ډیر خوږ دی.

۵- د ملا نعمت الله لیلی او مجنون:

ملانعمت الله د پښتو یو تکړه شاعر دی چې په پښتو داستان لیکلو کې له نورو تولو شاعرانو دمخه دی، دی په (۱۲۷۵) هق کال کې د پیښور په نوښار کې زیږیدلی او د (۱۳۴۸ — ۱۳۵۰

ه،ق) په‌حدو د کې مړ شوی دی.. دپښتو ډېرې کیسې لکه: دحاتم‌طايي، اختر منير، اکبر بادشاه او بير بل،باغ او بهار افغاني، دپيشو او مږی، دچترال جنګنا مه ،درستم او سهراب جنګنامه ،دحسنين او بی‌بی‌سيکنې جنګنامه ،دحضرت علی‌جنګنا مه ، درعنا اوزيبا، دشيرينی او فرهاد،دسوهينی مهينوال، دفتح خان‌کندرهاری، دموسی خا ن او ګلمکۍ د،نيمبولا او دليلی‌او مجنون قصې‌او داسې نورې ليکلی‌دی.دنعمت‌الله‌دليلی او مجنون قصه په‌داسې عروض ليکلی شوې‌چې هرمصرع يې(۱۲) څپې او هربيت يې(۲۴)څپې دی او دبيتونو شمير يې نهه‌سوه‌ته رسيږی.

په‌دغه‌قصه کې مؤلف‌ددې يادونه نه کوې‌چې‌دغه داستان يې‌له کومې ‌ژبې‌نه‌تر جمه کړی‌او که‌نه، يوازې‌په روايانو يې‌اتکا کړې‌ده. بلکې‌داسې‌ښکاري‌چې‌ده‌به داو لسې‌روايانو له‌مخې‌تاليف کړي وي‌لکه‌چې‌دحمديه کلام نه و روسته‌ليکی:

مو رخ‌دتاريخ نه‌نکته‌سنج	په‌دې‌ځای کې‌سپړی‌بيان‌د ګنج
چې‌په‌ملک کې‌دعربو‌بادشاه‌و	دخوارانو غريبانو پشت‌پناه‌و
سر تبه‌يې‌هسې‌شان‌وه‌له رفعته	په‌سخا کې‌حاتم‌و-له‌ده‌نه‌ښکته...

د کتاب‌دتاليف کال‌نه‌دی‌ښو ول‌شوی.

دعصام ليلی او مجنون :

تراوسه ددغه شاعر پوره‌احوال‌نه‌دی معلوم. رابرټ‌هيوز په (کليدافغانی) کې دهغه يوازې‌يوغزل‌اخيستی‌او هماغه‌بيا په پښتانه شعرا (لومړی ټوک) کې‌هم درج دی.د(عصام) بشپړ نوم (محمد عصام)دی‌لکه‌چې‌دليلی او مجنون‌په قصه کې يوځای ليکی:

ربه‌زرمحمدعصام‌و رپسې‌بيايه *چې‌په‌سمه‌عقيده‌ر يښتنی‌نيت‌دی.

دعصام د«ليلی او مجنون»قصه‌په او ږده‌بحر يعنی(۱۲+۱۲)څپو کې دغزل‌په‌ډول چې يوه‌بر خه‌يې‌تو له‌يوه‌قافيه‌لرې‌ليکل‌شوی‌دی.دده(ليلی او مجنون)په (۱۲۹۴ه ق) کې دسيد قسيم‌شاه‌په فرمايش‌دعزيز الدين په اهتمام په ډيلی کې چاپ‌شوی دی.

دده‌له کتابه‌دمخه‌په یو تهو ک کێو رسره‌په (٨)مخو نو کێ دسکند رختهک (لیلی ا و مجنو ن)بیاپه(١٥)مخو نو کێ دعصام(لیلی او مجنو ن)بیاپه همدغه ځای‌په‌پر له پسێ دول دسکندرختهک قصه یوځای شو ێ او تر پایه نو رد سکندرختهک‌لیلی او مجنو ن دو ام کوی او دعصام‌قصه نیمګړی پاتێ کیږی‌چێ داستره‌غلطی غالباًدچاپو و نکو ده‌چێ‌له دو و نسخوڅخه یێ‌یو ه قصه‌جو ړه کړي ده.

داده‌دعصام‌دقصێ‌نیمګړی‌پای‌او ضمناًدشعر نمو نه:

چێ‌لیلی شوه له‌دێ حاله خبر داره   پته‌خو له‌شو ه‌په‌ژ ړ اسینه‌افګاره
دێ‌وێ‌و ار دخو شحالی‌ر اباندێ‌تیر شو   ګاه‌در و نه،ګاه‌بیر و ن‌شو ه‌ناقر اره
دایو خر خ دفلک‌څه کار و نه کاندي   داچێ‌ز ه‌یێ کړ م‌جداله‌خپله‌یاره
که‌مێ ز ر کالو نه‌تیر شي‌بێ‌مجنو نه   په‌بار بار ز ماتو به‌له‌بله یاره
بیالیلی‌وي‌نو رمێ هیڅ په‌خاطر نه‌شته   په‌سل ځله‌مێ‌تو به‌ده‌له‌اغیاره
دو مچرێ په یوه تیکي نه‌ځا ئیږی   نه‌دو ه‌پښێ‌شي‌په‌یو ه‌مو ز ه‌حصاره
رنګ‌یێ ز یړ بشره‌خر ابه‌شو ه‌له‌مینێ   ددنیاله‌خو شحالێ‌لیلی‌و یز اره
شپه او و رځ یێ دفر اق‌نارێ‌و هلێ   په‌ژ ړ ابه‌یێ ګر یو ان کړ پاره پاره
چاوێ‌خال په‌ورځو کیږ ده که به‌ښه کړێ   دێ‌به‌وێ‌له‌خپله‌رنګه‌یم خالداره
بیادێ‌مو ر یێ‌و رته‌وێ‌چێ‌لیلی‌مه کړه   دێ‌به‌دو اړه‌ستر ګێ‌سرێ کړی‌له‌خماره
مو ر یێ‌وێ‌پلار دێ‌نار اضه کړ ای‌لو ری   خیلخانه‌خپله‌له‌تانه‌شو ه‌و یز اره
د مجنو ن له‌آشنایی‌نه و جارو ز ه   ګنه‌ز ه‌به‌له‌تاشم‌په‌ز ړه‌از اره
ډ پر عا لم‌یێ‌بندي کړی‌په‌فر یب‌دی   ای‌عصامه ! دنیاتګه‌ده‌مر داره.

دعصام(لیلی‌او مجنو ن له کو م تمهیده‌پر ته داسێ شر و ع‌شوی:

له‌ا و له ده ثنا دالله‌نو ره   له هغه‌پسه‌بیادر و د په‌ر سو ل‌و ر و ره
له هغه‌پسه‌یو ه‌قصه‌و ایم ز ه‌تاته   چێ مشهو ره‌ده‌عر بو کێ‌هر ګو ره.

مادعصام دقصې په نیمګړې موجوده برخه کې ددهدژ وند، سیمی او نور و په باب کوم خاص شی و نه‌سوندو.

دسکندرختک لیلی او مجنون:

سکندرختک دخو شحال‌خان‌ختک‌زوی، دهغه‌دمکتب پیر و او د پښتو یو تکړه شاعر دی.
دپښتو په‌ادبي‌حلقو کې‌دېر و خت‌دده‌یو ازې‌نوم‌ژوندی‌و او یو ازې‌یو شعر یې‌دنمونې په دول‌سوجود و،چې‌رابرت‌هیوز په«کلید افغانی» کې اخیستی(او پښتانه شعر الو هم‌ورې‌تو ک) هم اقتباس کړی‌و. خو په (١٩٥٢م) کال کې‌چې ددوست محمد‌کامل په‌مقدمه په پیښو ر کې‌دسکندرختک‌دیو ان چاپ‌شو، نو دپښتو دادب تاریخ له پاره‌یې‌دېر مو ادپه دې‌باب و رکړل.
ضمناً دسکندرختک‌دزېږ یدو او مړینې‌دتاریخ اتکل‌هم دېر کران و ،ځکه‌چې:
د«تاریخ مرصع»مؤلف‌دخو شحال‌خان‌دزیاتو زامنو دزېږ ید و نیټه ښوولې ده خو دسکندرختک دزېږ یدو دنیټې‌هیڅ معلومات نه‌لري.
دسکندر په دغه‌دیو ان کې‌دیو ه‌بیت‌له مخې‌دده‌دزېږ یدو نیټه‌داسې‌ښوول شوې‌ده:

زمادو ه‌و یشت کاله‌ژوند دی زرنوې‌سن دهجرت‌دی.

له‌دغسې‌بیتو نوڅخه چې‌په دیو ان‌او دغه‌قصه کې‌راغلي‌نتیجه‌اخلو چې‌په (١٠٦٨ه ق) کې زېږ یدلی‌او څرنګه‌چې‌یې‌په(١١١٦ ه.ق) کې دخپلو دوو زلمیو زامنو (انورخان او منور خان)مرثیه لیکلې‌نوتر دغه و خته‌یقینې‌ژوندی‌و.
ده‌دزېږ یدنې‌دنیټې‌په‌باب‌په‌دغه داستان کې داسې‌عبارت‌شته:

په‌لوستل که‌څوک‌زړښه‌ددې کتاب کا	ماسکندرختک‌دې‌یادپه‌ښه‌خطاب کا
ماخپل‌عمر د«و ایاد» کالو حساب کړ	چې‌تمام‌مې‌دلیلی‌مجنون کتاب کړ
زرنوی کاله چې سن دی‌دهجرت	دا کتاب‌دی‌ماجوړ کړی‌په‌صحبت
په‌غره‌مې‌دشعبا ن کتاب شروع کړ	ماضی‌حال‌مې‌په‌شلمه‌و رځ طلوع کړ

(و اياد) دابجد په حساب (۲۲) کيږي او په چاپي نسخه کې د (و اياد) په ځای (شل دوو) ليکل شوي چې د ناسخ ياچاپ و نکي اړو نه به وي.

د پښتانه شعراپه قول سکندر خټک د (سهر او مشتري) په نامه يو کتاب هم نظم کړی دی چې تر اوسه لانه دی موندل شوی. دغه کتاب په (۷۷۸ ه.ق) کې محمد ابن احمد العطار التبريزي په (پنځه زره) بيته نظم کړی و. دغه دا کتاب خوتنو شاعرانو په ترکي ژبه هم اړولی دی.

دسکندر خټک «ليلی او مجنون» دتونګ ديوې کتابخانی نه دميکرو فلم په ذريعه زموږ لاس ته راغلی دی او خيږنيار عارف غروال او خيړونکی عبدالواجد «واجد» نقل کړی دی. او دسراو پای له پلوه بيخی بشپړ دی، يوازې دمنځ په يوه مخ کې يوه مصرع نه لوستل کيږي او محو شوې ده. دميکرو فلم له مخې دغه کتاب په (۱۴۷) مخونو کې ليکل شوی، د بيتونو شمير يې (۲۰۸۴) دی. دنسخې دنقلو نکي نوم او دنقل دځای او نيټې درک پکې نه شته، خو په پای کې يو سهر لری چې نه لوستل کيږي. دومره معلوم ميږي چې دغه نسخه نسبتاً او روسته نقل شوې ده ځکه چې دخوشحال دکورنۍ په ليکدودنه ده او هغه په دې ډول:

(کليشه وګوری)

د کلمو په پای کې مجهول (و، ه، ي) نه دي ليکل شوي.

دغه نسخه په پښتو ادب کې «دليلی او مجنون» لومړی داستان دی او داسې معلوميږي چې د کومې بلې ژبې نه ترجمه نه، بلکې درو اياتو په اساس ليکل شوې وی لکه چې وايي:

ساقي راشه پيالې راکړه مالامالې
چې پرې مست شم په کاسه د پښتو نوا لې

دمجنون او دليلی احوال سې و وې
د ازړې خبرې ماکړې وا ړه نوې

په فارسي کله خبر دا پښتانه وو
پښتانه له شاعرانو په مانه وو

ماوې زه به يو آيت په جهان وکړم
نورځه نه دحکايت په جهان وکړم

که سيرزاو که دولت و په عالم کې
که واصل که ارزاني و په دا غم کې

نن سردا ر دسخندانو يو بابادی (۱)
نه به پس له ده پيدا شي نه پيدا دی

۱ــ د «بابا» نه مطلب خوشحال خټک دی.

په حکمت په عدالت کې یې سیال نه شته — په سخا په شجاعت کې یې سیال نه شته
د اکتاب که زما و وینې په سینه — په هر بیت به یې وایې سل تحسینه
هم په دا چې له خورد سال په عمر کم دی — تر سالخورده نه یې ښکلې ډېر قلم دی
په دا ملک کې شاعران هر کوره بس وو — څو که حیات دي په دنیا کې ځینې پس وو
چا کتاب د نظم هیڅ ترې آغاز نه کړ — بې غزله یې نور هیڅ راته ساز نه کړ
ده جوړ کړی په پښتو ښه ښه کتاب دی — هر کتاب یې مزین په لوړ خطاب دی
په هر ملک شوې د لیلی مجنون خبرې — مزه ناکې وې تر قند و تر شکر یې
هم خبرې قیمتي در شهوار وې — و لې بې تاره پرتې وې تار په تار وې
سا یو تار باریک د نظم ورنه ساز کړ — لاس د فکر مې په وار ور ته دراز کړ
په محنت کړې ماله هره ځایه تولې — ترې مې واخیستې ابداره کولې کولې
په فارسي دا کتاب ډېر و دی ویلي — په پښتو ژبه هیچا نه دی لیدلی.

دسکندر خټک د لیلی او مجنون چاپي نسخه:

لکه چې د عصام په (لیلی او مجنون) کې ورته اشاره وشوه د سکندر خټک لیلی او مجنون په بیخي غلط او بیخي نیمګړی ډول په (۱۲۹۴ ه ق) کې په ډیلي کې چاپ شوی دی چې یوه برخه یې په ځا نګړی ډول د عصام د قصې د پیل نه د مخه په (۸) مخو نو کې او نوره یې د عصام د قصې د وام لرو نکي جزء په حیث چاپ شوې ده.

دو روستی برخې څخه (۲۲) مخو نه پاتې او نور شو کیدلي دي.

په هر مخ کې یې په منځني ډول (۲۲) کرښې ځای شوې دي.

داسې معلومیږي چې د چاپي نسخې مواد له کومې بلې قلمي نسخې څخه اخیستل شوي دي نه د سیکرو فلم له قلمي نسخې څخه ځکه!

لکه چې په متن کې ورته ځای په ځای اشاره شوې ده، د سیکرو فلم له نسخې سره سمون نه لري.

د پاتې برخې په مقابله کې معلومه شوه چې د سیکرو فلم نسخه د چاپي په نسبت له هره حیثه بشپړه

اوسني لیک دود	دخوشحال لیک دود [1]	دنسخ لیک دود
ټ	ټ	ټ
څ، ځ	ځ	څ
چ	چ	چ
ډ	ډ	ډ
ړ	ړ	ړ
ژ، ږ	ژ	ژ
ش، ښ	ش، ښ	ش
ګ، ک	ک	ک
ڼ	ن	ڼ

(۱) دخوشحال دکلیاتو دهغې قلمي نسخې سره سم چې په ۱۰۹۹ هـ.ق یعني دخوشحال په ژوند کې لیکل شوې او د پښتو ټولنې په کتابخانه کې خوندي ده، زیات ځایونه دا (ش.ښ) توپیر یوازې په دغه معتبره نسخه کې لیدل کېږي.

ده خوددې دو سره بشپړ تيا سره سره بيا هم مو ږ ته دچاپي نسخې (۲٦) بيتو نه را کړل چې په قلمي نسخه کې نه وو. او د ځينو نالو ستل شو يو برخو په لوستلو کې يې راسره زيا ته سر ستــــه وکړه. زه پوهاند رښتين ته کورودانی وايم چې دغه چاپي نسخه يې ما ته داستفادې له پاره راکړې ده.

خير نوال دوست شينواری د پښتو ټولنې مرستيال

داستفادې مأخذونه:

۱-دجاسې د «ليلى او مجنون داستان» مؤلف اعلى خان افصح زاد- دوشنبه ۱۹۷۰ کال .

۲-«پښتانه شعرالو مړی ټوک» پښتو ټولنه (۱۳۲۰ هـ ش) کال.

۳-د«سکندرخټک ديوان» ددوست محمد کامل په مقدمه پېښور (۱۹۵۲م) کال.

۴-د«رحمت داوي دليلى او مجنون» قلمي نسخه دپښتو ټولنې په کتابخانه کې.

۵-دملانعمت الله «ليلى او مجنون» دپېښور چاپ (دچاپ تاريخ نه لري)

٦-د«سکندر خټک ليلى او مجنون» دميکرو فلم نه نقل.

۷-«کليد افغانی» داطلاعاتو او کلتور دوزارت د ۱۳۵٦ کال چاپ.

۸-(ورکه خزانه) دهميش خليل چاپ پېښور.

۹-دسکندر خټک او عصام د(ليلى او مجنون) چاپي نسخې په ډيلي کې د عزيزالدين په اهتمام او دسيدقسيم شاه په فرمايش د(۱۲۹۴ هـ ق) چاپ.

بسم الله الرحمن الرحيم

که په‌عقل کې‌لقمان یاافلاطون شي
ستاحکمت و ته‌چې‌وګوري مجنون شي

وخاطراو به‌ښایست دلیلی ورکړې
عاشقان لکه مجنون باندې ابترکړې

دقدرت په قلم هسې کړې نقشونه
په‌یومخ کې رنګارنګ‌سازکړی ګلونه

حکیمان‌دي‌په‌هر کار پورې‌حیران‌دي
دحکمت‌فرس‌یې پاتو،ترې‌ناتوان دي

تا ادم له یوه موټي خاروسازکړ
بیاد عشق په دولتونو دې‌ممتازکړ

عشق‌دې ښه‌دی لکه‌نمر هسی‌تابان‌دی
په شغلو یې منور تمام جهان دی

عشق‌دې‌اوردی‌عاشقان‌باندې‌وریته‌شول
عشق‌دې‌ځراغ دی‌پتنګان‌باندې‌وریته‌شول

دعشق کاردې اعلی کړی‌تر هر ښه‌دی
چې له‌عشقه دې منکرشوسړی نه‌دی

تاله عشقه خبر کله پریښتې کړې
په‌داماء(۱)دې‌هم‌زماخاورې‌خیشتې کړې

که طاعت که‌عبادت‌دی‌و اړه‌عشق‌دی
هرچې‌غیر دی‌له‌عشقه واړه فسق دی

عاشقان چې‌دفراق په توره‌سړه دي
په‌دنیاکې چې یادیږی مرده نه دي

[۲]چې‌دعشق په‌توره‌سړه‌شول هغه‌روغ دي
چې‌بې‌عشقه روغ په‌ځان‌ګرځي‌دروغ دي

چې عالم راغی دنیا و زمانې ته
اوس‌یې خوګوری و نخښې نښانې‌ته

صدهزار ژنې زلمي‌زاړه‌و اړه‌شول
چایې‌نوم‌په‌خوله‌وانه‌خیست‌هسې‌مړه‌شول

صدهزار ګلرنګې جونه‌لکه واوری
دجهان‌په‌مخ شوې واړه‌توری خاورې

په‌عرب کې‌په‌مغول کې په‌افغان کې
عشق‌لیلی‌مجنون ښکاره کړل‌په جهان کې

نمرسپوږمۍ شول دعشق‌له برکته
په جهان کې به یادیږی تر قیامته

خدای‌پسندلې‌تر هر ښه‌نه‌عشقبازي‌ده
سینه‌ښه‌ده‌حقیقي که‌مجـــــازي‌ده.

---

۱ — (ماء)= اوبه. (۲) یادونه: د کرښو په‌پیل کی‌ارقام‌دقلمی‌نسخی مخ ښیی.

مناجات دباری تعالی

ای یوه خدایه چې خپل عمل ته کسم
نه د خولې څخه توفیق د ځواب وینم
هغه ورځ چې ته قاضی شې عدالت کړې
زه تر خپلو گناهونو شرمنده یم
نه به هورې قبیله زما په کارشي
وسیله زما عاجز خوستا کرم دی
زه چې و گورم دې خپل عظیم گناه ته
[۳] خدایه! ما و ته ښکاره د کرم لاس کړه
که گناه زما تر شمار تر حساب تیر دي
که زه ویره کړم د قهر له سمنده
سوزنده که ستا د قهر غضب اور دی
قبلوه زما عاجز عذرخواهی ته!
و توبې ته سې د فضل ورپرانزه
په قیامت چې کړې ښکاره د عدل تله
تر بتې به زما سپکه حسنه شي

شرمینده شم چې کوم عذر وړاندې نسم
نه توفیق د ځان د قهر عذاب وینم
خپل عمل به و رښکاره په قیامت کړې
په ایرو کې د ظلمت سرافگنده یم
نه به زوی، نه وسیله زما په کارشی
ستا چې نوم کریم، رحیم دی، نو رخه غم دی
درست پو هیږم چې به زر پر یو ځم و ځاه ته
د کرم په لاس سې هسک له کوهی پاس کړه
ستا احسان عفوه کرم تر حده ډیر دي
و سمند ته کړه پید اد مهر کنده
په دااو ر دې د رحمت مهر هم زور دی
مانومید مه کړه له دره الهی ته!
چې یې پر یږ دې بیایې مه تړه چې و زه
چې نیکي بد ي د هر چا شي تلله
د گناه د لوری تله به در نه شي

و رسره کړه دسرو رد نامه توري   ستا په نوم ږد و چې به درو ندشي هغه لوري
زه عاجز په خپل طاعت کله غلط یم   امید وا رستا و کرم و ته فقط یم
شپه تیاره ده په گناه، وړاندي ده کنده   ته یې ما ته کړه دا په او ر خرگنده.
هر یوه آه سې سره لمبه سبا سهر کړه   په دا اور راته ښکاره دگناه و ر کړه
چې سې او ښې په سخ تل لکه ز هوب وي   و اړه سالگې کړه چې بیا ر اشخه خوب وي
داچې مدرسم الف په سرد آه دی   پرې سې و کاږه، دالوی رسن د شاه دی
زه په کښت کې دښو نه لرم رود و نه   و ر و ه پکې د سهر با را نو نه
[۴] نور که درست یم الوده دنفس له چر که   یو سې و ساته خو له زړه له چر که شر که
نورعمل د خلاصي نه وینم زه خپل خو ک   مگر دا چې سې شر یک نه کړ ستا بل خو ک
که هر خو زه په گناه کې الوده یم   ته سې پر یو ینځه په او ښیو، په تو به یم
زه که هر خو به په ژ به په گفتا ریم   خو و تا ته په تو به، په استغفا ریم
بر کت را کړه دنیکو په هر کا ر کې   ما سحکم کړه په تو به په استغفار کې
همیشه ژغو ره د سیو له سستی   له سستی نه ما سا ته له بد سستی (۱)
دسړی دایمان زیان بده خو دي ده   له خو د ی سې ساته خو دي بدي ده
سخ سې تل لره گلگون په استغنا ته   په خو است سه کړه رخساره زیړه زما ته
پرې سې سه باسه په چا باندې حاجت هم   دحاجت سې کو ه ته معا لجت هم
ر زق له غیبه را کوه اندک بسیار ته   سنت سه کړه دسړي را با ندې بار ته
په هر ځای کې ته له ما سره مد د کړه   داسلام په نو ر روښن را ته لحد کړه
په گناه که سې تیاره وی لحد خدا یه   راسر ه بله ډ یوه د ا یما ن بیا یه
هر یو کار چې ستا له حکم نه بیرو ن وی   نا روا دې په سکندر خټک پښتون وی

خدایه! ما ته فصاحت دژ بې را کړه
په صفت سې دسرو ر صاحب گو یا کړه

---

۱ — دا سصرع داسې لیکل شوی: ته سې ژغو ره له سستی نه، ما سا ته له بد سستی»

PROPERTY OF ACKU
6286

نعت د سرور کائنات افضل مخلوقات

محمد صلی الله علیه وسلم:

[٥] خوله کړه پاکه طهارت ووضوو کړه — بیا ثنا د محمد صاحب په خوله کړه
بیا له پسه صلوات په رسول وا یه — څو دې ځان په ځان کې شته محمد ستا یه
محمد نبی باد شاه دآن واین دی — چې خطاب ده ته د سید المرسلین دی
څکه خوبښ په معیشت کې شیا طین شو — چې خطاب یې د رحمت للعا لمین شو
دی سر دار هوری، دلې د نبوت دی — دی شفیع المذنبین په قیامت دی
ما دانقل دی لید لې په بیسر کې — درجاء په باب دی کښلی په د فتر کې
ته یې واو ره له کتابه ز ماو رو ر ه
د سرور د کلمې شرف وګو ره

حکایت په تمهید

دآدم په مزار ونه ده ای‌زویه! بیا په ملک‌دسرندیب ده کمه لو یه
خوږه ،تلخه میوه نه لري داونه نري پاڼې لري سمه اوږده پلنه
دقدرت په قلم لوی عظیم‌بادشاه‌دی پرې‌یې کښلې‌لاالله الا الله دی
که‌په‌سخ دزسکې ډیر کاله پر ته‌وي نه‌یې‌بادنه‌یې‌باران‌وړي نه‌ورسته وي
هر چار پای‌چې‌دصحرا پاڼې‌و اښه‌خو ري که‌یې‌داپاڼې په‌خوله‌شي‌داخونه‌خوري
په‌سبب چې داله ونې‌ته راپر یوزي په‌ډیر بخت‌دچانیکبخت‌په‌لاسو کیوزي
که‌یې لږه پاڼه ګډه په رنجو شي په‌رنجو به‌روغی(۱)ستر ګې‌درنډوشي
[٦] که‌په‌اورکې‌یې‌خوک‌واچوی‌ای‌وروره! لکه‌شنه‌وي هسې‌شنه‌و وزی له اوره
دسرورنبی د نوم هومره عظمت‌دی چې‌یې‌و سیځي‌داو رترو څه‌قدرت‌دی

هرمؤمن‌چې کلمه کښلې‌په‌زړه‌ده
د دوزخ‌له‌اوره‌و یره‌دده‌څه‌ده.

۱ــ د«روغې» په‌ځای(توړې)لوستل کیږی.

تتمه د کلام

له طفیله یې پیدا و اړه عالم شو — سکر م دده له نو ره نه آدم شو
چې دنو ر شغلې یې ګډې په وجو د کړې — فر ښتې یې و اړه بز رګې په‌سجو د کړې
شک په دا ر ښتیا خبره کې د چادی — په‌معنا کی ادم زوی‌دی، پدر دادی
دی‌قاضی دشر یعت مفتی ددین دی — په نګین نقش یې خاتم النبیین دی
مسخر یې دو اړه ملکه ر وایت و و — دو ه‌حر فی‌تفسیر دده‌دخو لې‌ایت و و
دی‌هم‌سترګې‌هم‌چر اغ ددر ست‌جهان‌دی — دده کښلی‌حسن‌باغ ددر ست جهان‌دی
هر ګیاه‌چې‌سر له ز مکې رانمو دکا — ابتدا اول په ذکر د د رود کا
په‌ګلو نو دبارخو یې صلوا ت کا — د ز لفینو په سنبل ا تحیا ت کا
له‌پر تو ه‌یې ر وښن‌مخ دافتاب دی — افتاب ځکه‌په‌صفت کې‌عالم تاب دی
دسپو ږ مۍ چې ر ڼا یې‌په‌در ست‌عالم‌ده — په‌صو رت یې‌سښلې خا و ره‌دقدم‌ده

په‌صفت کې یې «اللیل» دخدای کلام دی   توری زلفې یې د«اللیل » دواړه لام‌دی

[۷] په‌صفت یې درست قران‌مجید گویادی   و لې لا یې ډیر یاسین سورت طاهادی

درست‌وجود یې خلق‌احسان‌دی‌سرترپایه   هر څوک‌ده‌وته محتاج دی بې له خدایه

هر خادم‌څخه‌یې‌ډک‌خوان د خلیل و   هر سرغه د مدینې یې جبرائیل و

کوزوپاس چې په‌زمین‌آسمان ښکاریږي   همگي و اړه دده په نوم یا دیږي

خوږ مې‌ځان‌او درست‌وجودشهدوشکرشي   چې په زړه‌په خوله‌مې‌یادنوم‌دسرورشي

که‌څواب‌یې په‌صراط و نه‌کابد کا   چې‌څوک نوم په ژبه یادد محمد کا

زه‌که و کښم دفتر و نه بې‌حسابه   تم به نه کړم لږ صفت له دغه بابه

دا صفت لکه په ژبه گفته کیږي   گو هر کله په خبر و سفته کیږي

لږ صفت‌به‌یې‌و نه کړم که یې ستایم   تر قیامته که زه پایم وایم و ایم

زه سکندر چې څو باقي‌وجو دلرمه   په‌سرور صاحب به تل در و دوایمه

دقرآن‌په‌سر کې‌یا د یاسین یې بس دی   یعنې‌درست په صفت ستا داقرآن بس‌دی

خدایه ساو ته‌توفیق دژبې را کړه   تل مې ژبه دسرورپه‌نوم گو یاکړه

څوک‌چې‌نوم دمحمـــــدصاحب په‌فم کا

دی‌دې‌صلی‌الله‌علیه‌وسلـــــم کـــا

نصیحت وهغو زړو ته چې د اتیا کالو او نوي لا د هلکانو کارونه کا [۱]

ای سړیه! د اتیا کالونو زوړ شوې — لا حرص لرې له عمره کله موړ شوې

[۸] د هلکو سره ګرځې حرص دې ډیر دی — زړه دې ډک شو له هوسه مرګ دې هیر دی

د هلکو سره لوبې کړې ای پیره! — نه‌یې وینې شیطان‌ټوکې ستا په ږیره

ولې نه‌ترې له‌وخته بارد کوچ ته — ګرزې پوچ، ویل کړې پوچ، خندا کړې پوچ ته

لوی عظیم دریاب اخیستی د هوس یې — دې دریاب په‌مخ کې وړی لکه خس یې (۲)

تمام عمر دې ضایع په خوشالي کړ — د زړه کور (۳) دې له‌اصلي فکره خالي کړ

راشه‌نور عمر په‌ذکر د خدای تیر کړه — د قیامت عاقبت یاد کړه هوس هیر کړه

که‌دې عمر په‌ځان نور هو سره دې زړه شي — ستا به کله د حرص ګېډه موړه شي

که د زړه‌مرغۍ نیوی نه‌شې ای شومه! — ور ته واچوه دانه د تسبیح لومه

سترګې پټې د دلبر له خال و خط کړه — وازې سترګې د مصحف په‌حرف‌نقط کړه

نظر لرې د بلندې له قامت کړه — زړه حضور د مؤذن په «قدقامت» کړه

مخ د ښکلیو له‌ابرونه و جار باسه — برابر (۴) په‌محراب کینه‌بې وسواسه

خود رشي له ښایسته و زړه شلونه — زړه د نفس له هوسونو و شلونه

راشه‌مه کړه عمر تیر په‌مسی خوری — شراب مره دې‌و لې کاندې مخ توری

۱— د چاپي پاتې پاڼې چې له همدغه ځایه پیل شوې دا عنوان یې داسې لیکل شوی دی:
(اګاهول د غافلانو د غفلت کارې او شکایت د عمر له بې‌وفای)

۲— په‌چاپي دا مصرع: کله ډوب، کله ښکاره شي، کله خس یې.

۳— په‌چاپي کې د (کور) په‌ځای (ځای) دی.

۴— چاپي (روبرو) دی.

د اچې وینې زرغونې پاڼې د بنګو   ولې شنې شوې ته یې بدرنګه تر بد رنګو

سپین و ښبښته دې شول ښکاره په زنه باندې   د ا ښینه د کفن و تا ته کاندې

په ملاکو ږلکه لینده شوې تیښت دې سر شو   دا په دا چې تنګ ښکاره دلحد و رشو (۱)

غوږ دې ځکه شول کاڼه له نیژ دې لرې   چې وانه ورې نور د چا بد ې خبرې

قد دې ستا لکه لینده په ډېر خضوع کړ   بې اختیاره یې په یاد د ر ته رکوع کړ

لاړله د واړو سترګو ځکه د تانور شو   چې بدنه(۲) وینې، بد کار له تا مستور شو

چې دې پر یوتل غاښونه له خولې واړه   وت د ساهې د وتو وشو، اوس ژاړه

چې دې واړه شول غاښونه له خولې توی   دا په دا چې حرام خوړه خوله کې ژوی

داپسات په صورت واړه د تا وشو   ولې لا دې زړګی سخت شو، نرم نه شو

له غاښونو دې خالي شوه ډکه خوله   د ارمان شونډې به اوس چیچې په څه

راشه مه اوسه په بد ویل چا لاکه   مه کړه بیا رته خوله بې ذکره بې مسواکه

خوله خالي لره له بده له قبیحه   بیا رته مه کړه خوله بې ذکره بې تسبیحه (۳)

که په عمر په حساب کې د خلو ښت شوې   نور وګوره ته نژدې په یوه لو ښت شوې

دخوا نی کار به واړه د تا نورشی   د ر ښکاره به په هر کار کې د تازورشي

چې د عمر په شماره پنجاه و یک شې   نور وګوره ته نژدې په یو څپک شې

نور به ستا صورت لت پت په ډېر غم شی   زوروربه دې په ځان رنځور الم شی

چې په عمر کې حساب ته د شپېته شوې   نور د ګورقبر په غاړه ولاړ ته شوې

---

(۱) په چا پې کې (لکه ښکاره درته ډېر تنګ دلحد ورشو) دی.

(۲) دقلمی د (بد) په ځای په چا پی کې (نور) دی .

(۳) له دې و روسته (۱۸) بیتونه له چا پی نسخې نه و اخیستل شول.

پەصورت بەدې بې دربغه شکست گله شي
په شکست بەدې صورت سره ګډ و ډ شي

چې دې عمر په شما ره کې د هفتاد شي
نور دې درست صورت په لبر کې ا فتاد شي

نور به پاتې شي د خپل همت له کاره
خاورې با رشه منت مشه په تا با ر ه

چې دې عمر په شماره هفتاد و لس شي
د رښ کاره به نور ژوندون واړه عبث شي

ما خو تا وته د ښو خبرې و کړې
واړه ستادی که به بد کړې که په ښه کړې

ای سکندره نصیحت و کړه ولجان ته
د جهان غمو نه و سپا ره جهان ته

پند و فرزند لپاره چې د ښو د امنګور اوسه
او له بدو بېرته اوسه

ای زما د کور رڼا د سترګو نوره   خدای دې نه کاندي په تاباندې مور بوره
هغه وخت چې ته په عمر هفت ساله وې   لکه ګل لا د چمن په حوا له وې
اوس دې عمر په حساب کې پنځلسم شو   قد قامت دې هم له سروې سره سم شو
اوس له وړ کیوسره سه کوه بازی   په ښه خوی غواړه د ځان سرفرازی
اوس هغه کار و نه کړه چې هنر و رشې   په ښه خوی و هنر خلق ته نامور شی
په هر ځای کې چې د علم مشغول لا شي   ستا به څه حاصل په اسم د بابا شی
فضیلت علم هنر که ستا د پلار وي   دبابا علم دزوی څه په کار وی (۱)
دا ستل دی مشهور (۲) په جهان واړه   چې حلق لوند وي د هرچا په خپله لاړه
په هرڅه کې مردانه لکه زمری شه   که سیړه یې هنر پلار کړه، ته یې زوی شه
څو هلک وي د هلک پدر یاد یږي   خو چې لوی شي نو ریې خپل هنر یاد یږي
دا مصراع د خپل بابا لرم یاد ګاره   ښه لایق ځوانان بې مورە دی بې پلاره (۳)
سړی کوم دی چې پسندلی په هنر وي   بې هنره سړی څه (۴) وي، لکه خر وي
(۱۰) خرلا ښه دی چې وبار و ته په کار وي   بې هنره و کوم کار و ته په کار وی
د دنیا دولت که ډېر وي، در کره وي   هنر هر چېر ته چې ته یې درسره وي
سیم و زر که ساتل نه شي نو ریې غله وړي   هنر خاص متاع د زړه دی، غله یې څه وړي

---

(۱) ترد غه ځایه له چاپي نسخې نه و اخیستل شو.   (۲) (مشهور) هر ځای د (ش) په زور دی.

(۳) نامرد فخر په نسب کا ــ مرد نه مور لري نه پلار (خوشحال).

(۴) د قلمی د (څه) په ځای په چاپه کې (نه) دی.

سال دولت که وي خو ډېر رنج دې زیاتیري
هنر علم ورکوه، ګنج دې زیا تیري

په دنیا باندې تفضیل د هنر دا دی
د نیا نور درځخه یوسي ، هنر ستا دی

سوا فق د خپل آمد سره بخښل کړه
نولس و باسه له کوره حصول (۱) شل کړه

هغه کس به زرد کلي (۲) درویز ګر شي
چې بې شل له کوره دروسي ، نولس و رشي

که دولت غواړې طالب دسبب او سه
د خدای خلکو سره تل په ادب اوسه

چې د چا سره روزګار کړې په ادب شه
وفرمان وته سر کوزی د خپل رب شه

د ین د ستور د محمد واړه ادب دی
تل نازل په بې ادب د رب غضب دی

خو حیات یې په د نیا کې و پو هیږه
په هر ځای کې خدای حاضر ګڼه و یریږه

هر یو کار چې د مولا په رضا نه وي
ته یې مه کړه هغه تا ته روانه وي

خدای بې ستر ګو دی بینا هر څه ته ګوري
واړه ده وته ښکاره دي د زړه توري

له هغه سړ یه تېښته خو د رکیږي
هغه خوک دی چې له خدایه نه ویریږي

هغه کار کوه همیش د خدای سریږه
چې ښکاره شي ، خجل نه شې ترسړیه

[۱]—ای زمازویه که غوږ زما په پند کړې
په د اپند به ځان عالم ته سر بلند کړې

که د چا په ښو خبر و بهتري ده
په و یلو کې د شعر سروري ده

هغه و ینې خو رې د زړه چې په دې فن وي
ته یې مه ګڼه دروغ چې هم احسن وي

ته به نه شې په دافن په جهان سلوم
شعر ختم شو زما د پلار په نوم

که د شعر سر تبه د ده ډېره لو یه
تا ته علم هنر بو یه زما زویه

داحدیث د پاک رسول دخولې عیان دی
په کار علم داد یان هم دابدان دی

---

(۱) (حصول) په ځای (وصول) لیکل شوی.

(۲) د قلمي د (کلي) په ځای په چا پي کې (شهر) د ی .

چې له دوارو شو محروم کله سړی دی — که په رنګ شود سړي ولې غمګی دی
د هر چا چې په دنیا دوه راه نصیب شي — په جهان کې هم فقیه شي هم طبیب شي

د عیسی غوندې طبیب شه صاحب هوش شه — نه چې ته ناقص طبیب شه مردم کش شه
که دادواړه کړې حاصل خوښي به تل کړې — پادشاهي کړه د جهان، جهان به خپل کړې

لږ خوره لږ خوره نفع ډېره لري لویه — په ډېر ډېر خوراک کې ډېر زحمت دی زویه
چا طبیب و ته داوو یل طبیبه! — دا خبره نه ده تا و ته غریبه

هسې رنګه ګولۍ و خوروه و ما ته — چې محتاج د دارو نه شم و یل چا ته
د طبیب هغه ته د ارنګه ځواب و — مختصر ځواب یې و کړ درست کتاب و

خوچې و یې شي خوږ و ته لاس دراز کړه — لا چې و یې یې خپل لاس و رځنې باز کړه
[۱۲] د هر چا چې په جهان کې دارواج شي — ما دې زوري که طبیب و ته محتاج شي

که «کلوا و شربوا» خدای دی فرمایلی — «ولا تسرفوا» یې لا دی ډېر غندلی
که کلوا! و شربوا قول د الله دی — زویه تسرفوا هم لوی عظیم ګناه دی

په خوراک کې سراسر صحت انار دی — په خوراک کې دماهی علت بسیار دی(۱)
هم چې(۲) ډېر انار سړی وخوري زحمت شي — لږ ماهي په اشتها خوړل صحت شي

زویه مه ژاړه هرګز له تنګدستۍ — پادشاهي نه ده په کار بې تندرستۍ
سیم و زر که د دنیاور کړه ډېر شي — چې لږ دردو رباندې و رشي واړه هېر شي

د طاعت ښینه (۳) کړه راشه فقیه شه — نه چې ګرځه زرد ینار غواړه سفیه شه
د دنیاد پاره مه کړه علم یاره — علم پاک دی، دنیا وګڼه مردار ه

په دا باب به حکایت درته بیان کړم
د دا ناحکیم مذکور به درعیان کړم

---

(۱) هادوه بیتو نه له چاپي نسخې نه واخیستل شول.

(۲) په اصل کې (د چې) په ځای (په) دی. (۳) په اصل کې د (ښینه) په ځای (سینه) راغلي دی.

حکایت

په یو ملک کې دعرب دانا حکیم و — دی په علم په حکمت خو انا فهیم و

هیڅ یې نه‌ساتل(۱) په کور کې، بې توښه و — د زردارو له صحبته نه‌ګوښه و

په صحرا په شهر تبش (۲) له‌دنیا داره — درست علوم یې و وحاصل دخدای دپاره

ورځخه یوه بېزو وه بازیګره — ښه بازي به یې کوله په خبره

نه په درد چا و لاړو، نه‌په کاشت و — خو په غم د یوه‌نان دشام دچاشت و

نه منت د ده په غاړه د منعم و — په دولت دقناعت غني بې غم و(۳)

[۱۳] دا بېزو یې له ضروره ګله وله — نفقه یې هم په دا پیدا کوله

یوه ورځ چا ورته وویل دا نشوره! — په حکمت یې په جهان کې ناموره

که‌وچا و ته ښکاره هنر تمیز کړې — ځان به هر یوه‌سړي سره‌عزیز کړې

هر سړی به ستا د علم طلبګار شي — غمګسار به دې هم دی‌د هر کار شي

ویل تاخو را ته ښه وویل ای ځوانه — زه به هم درته ځه و وایم له ځانه

حکمت علم په جهان کې نفیس تر دی — مال اموال د جهان ډېر خسیس تر دی

دا دنیا ده هېڅ ګنده بد بویه — تر بېزو په نجاست ده ډېره لویه

زه که علم نفیس و رکړم په مرداره — دا خبره ما ته‌سه کوه د وباره (۴)

دا خبره ما ته ښه‌ده یو په لسه
په نجسه به اخلم دا نجسه

---

(۱) په‌چاپي کې دا ساتل په‌ځای (درلود) دی. (۲) «تبښ» — «تښتېده».

(۳) په‌اصل کې د(بی‌غم) په‌ځای (به‌غمو) دی.

(۴) دغه پنځه بیتونه له‌چاپي نسخې وا خیستل شول.

نصیحت وفرزندته له هره بابه (۱)

که دا دواړه کړې حاصل خوښې به تل کړې   بادشاهي کړه د جهان جهان به خپل کړې (۲)

راشه واوره نصیحت له خپله پلاره   کار کړه کار کړه ناستی نه بویه بې کاره

سړی تل بویه په کار کې بې کار څه وي   تر بې کاره ناستی ما ته بیګار ښه وي

ای زما زویه! د ازده کړه که ښه کړې   ناست ولاړ به د بد انو سره نه کړې

د استل دی د افغان د انا و یلی   ما په سینه دی د زړه په تخته کښلی

چې له بد و بد کار انو سره اوسې   که هرګز په ځان بد نه کړې، بد به یو سې

د نیکانو په صحبت کې بد کړه ښه وی   د بد انو په مجلس کې ښه ښه نه وی

---

(۱) په قلمی کی عنوان (هم کلام) دی .

(۲) دا بیت په (۱۱) مخ کی هم را غلی دی او دلته بی موږد ه دی غالباً به ناقل دلته سهو اً لیکلی وی .

که سخن دې سالاسال په لطف و آب وي — هم خو ښا په کم ګویي کې ډېر صواب وي
که تر خوله او باسې د رګو هر خبرې — هم خو ښې دي په صندوق کې سرغلرې
وایه هاله چې یې خوګ په سینه اوري — خاموشښه یې چې دې خوګ خبرې نه اوري
[۱۴] درې څلور ګلونه ښه د باغ پر ورو — راوړه مه شه ډېر د باغ بلا بتر
هوسره و څښه او به صافې چې حلق لوند کړې — که تر حده زیاتې و څښې ځان به درو ند کړې
در کلام کړه، هر سخن اندک اندک کړه — چې په دا اندک کې واړه جهان ډک کړه
سرغلرې لږې و پیه هار کیږي (۱) — چې لږ زور په سزې و کړې سزې شلیږي
په هر کار کې تل انصاف و مروت کړه — د هرچا سره روزګار په ښه خلقت کړه
خدای غند لې د سړیو بد خو یې ده — بد خویي څه ده په ځان کې بدبویي ده
ما و کښلي یو څو دردې له دریا به — د رد پند د نصیحت هم له دې بابه

لکه ما دا سرغلره په زور و کښه
ته یې و اخله په کاغذ یې دغو ږ و کښه.

---

(۱) — په قلمي متن کې (سرغلرې لږ و پیې به هار کیږی) راغلی دی، خو په چاپي کې همد اسی دی.

حکایت

داحدیث دپاک نبی خیرالبشر دی   په کتاب کې ما لید لی معتبر دی
هر سړی چې له ښه خو یه نه سا ده وي   په تحقیق به دی خبصي (١) زنازاده وي
هر چې نه لري ښه خوی حرام زاده وي   پیدا (٢) مه شه که پیداکرام زاده وی
ښه خلقت لري هغه چې دی اصیل وي   تر د اکوم ښه د اصیل په باب دلیل وي

هم دا کلام

ای زما زویه غم مه خوره ددنیا   ورکوه خوروه دنیا زه ده دچا
[١٥] داهم ښه که یې فقط وخورې په ځان ته   که یې پر یږدې نور د ځان ګڼه تاوان ته
په اخلاص که ودرویش ورکړې ګوښه ته   دا به یوسې د هغه جهان توښه ته
په دنیا که مینه د اریې مین او سه   با رپه سرکړه د فقیر د رسره یوسه
د نیاو ښنده عمل پرې ښایسته کړه   نه چې ورکړه رنګ محل پرې ښایسته کړه
خوره خوروه دسخاوت دولت حاصل کړه   په ښه خوی د قناعت دولت حاصل کړه
د دنیا د جمعیت که وسیله کړې   په خوراک کې یې بیاښه وی چې هیله کړې

زه به و کړم د ساهي د ما رتمثیله
چې خوراک یې خوړ په هسې هیله بیله .

---

(١)—په متن کې (حبصي) په (ح) دی خو (خبص) په (خ) په عربی کې د (ګډوله، بې لارې) معنی ورکوی.

«٢»—(پیدا) په ځای (په دا) هم لوستل کیږی.

نقد

ماهي‌ګرځي‌په دریاب کې پس له کاله — له دریابه قطره و ښبني کم‌تر خاله

چا ماهي‌وته داووي چې د برنه ښبې — کال په کال‌یوه‌قطره‌او‌به‌په څه ښبې

ماهي‌وویل هغه ته چې‌عاقله! — د دنیا د کار و‌بار و‌نه غافله!

زه په ځان که‌دېرې‌دېرې‌او به وښبم — داا‌و به به شي‌تمامې‌نور به‌څه‌ښبم

بله‌ورځ یې دا ماهي ولید پابست و — هم د ښس په شامت‌بند‌په‌یوه شست و

دادریاب‌کله دده په ښبلو کم و — چې دا‌هو سره یې ماهي‌د‌کم‌په‌غم و

نصیبې دې دسړي د اهو سره زیاتې
په هیله هیله کې وارو‌ځنې پاتې

بل نقد

[١٦] —چا په تیره زمانه لیدلی‌مارو — راوتلی له سوراخه په‌تلوارو

په یو ځای یې ژبه کیښوده‌په زمکه — په هیله به یې ښتله زمکه ځکه

چاوې و‌لې په هیله ښتې دا خاورې — وې یې‌زه به درته ووایم که‌آورې

په دا خاورو مې په داسبب هیله ده — چې زما په داد نیاکې وسیله ده

زه که ډېره په هر ځای و ښتم زمکه — نفقه به شي په ملک‌کې‌زما‌ورکه

زه خوراک ساتم په دا رنګې خوارۍ — په هیله ښتل مې ژبه د‌ه‌نرۍ

بله ورځ یې مار لیده په ګنډرګاه‌کې — چا وژلی اچولی وه په راه‌کې

چې د مارخوراک‌یې کړی‌درست‌زمیځ و — په‌داهو‌سره‌زیات‌خوراک کې‌لاغمګین‌و

د سړي نفقه هوسره و ینم زیاته
چې‌یې‌نه خوري ،بیاو نورته‌شي میراته

تتمه د کلام

ای زما زویه د نیکو خوی پیدا کړه   له دنیا نه سینه ډېره په دعا (۱) کړه
هسې مه شه چې بیا و سرې خوک دې ښخ کا   لکه و مري مار لړم هر څوک پرې اخ کا
هر سړی په زمکې سر ینه هم زړه یېږي   ولې خوی یې تل حیات وي نه ورېږي
خدای دې تا په دا عالم جهان نیک خوی کا   په عالم کې دې په شان د نیکو لوی کا
[۱۷]—خدای دې تا له هرې بدې بلا ژغوري   بدخواهان دې شه په خلکو کې سخ توري
د ځوانۍ ونه دې تل ترو تازه شه   په جهان کې دې د نیکو آوازه شه
څو ژوندی یې په جهان کې خرم اوسې   د جهان له آفتونو بې غم اوسې
همیشه له خپله عمره برخوردار شې   د نیکانو صالحانو زویو پلار شې
دا دعا همیشه ته زما په باب کړه   له عذابه سې خلاصی په دا ثواب کړه
دا دعا ده ستا و ما ته ډېره لویه   چې څوک به وایي په تا باندې ای زویه!
هر سړی چې په نیکۍ نیکان ستایي   صد رحمت به یې په پلار په نیکه وایي
راشه مه کړه زویه چاو ته ښکنځلې   چې څوک نه کاندي و ماو ته ښکنځلې
که څوک یاده په ښکنځلو د چا مور کا   دی به یادې په زور ل د ده مور خور لګا
که ښکنځل نه کړې و مور و خور ته خپلې   د بل چا و مور ته مه کوه ښکنځلې

ساقي راشه پیالې راکړه مالامالې   چې پرې مست شم په کاسه د پښتنو الی
د مجنون او د لیلی احوال به وایم   ګذشته عاشقان بیا په لسان ستایم (۲)
د مجنون او د لیلی احوال مې ووې   دا زړې خبرې ماکړې وارو نوې
په فارسي کله خبرد اپښتانه وو   پښتانه له شاعرانو په ما نه وو

۱—په قلمي کي (دعا) په چاپي کې (عقبی) دی. ۲—دا بیت له چاپي نسخې نه و اخیستل شو.

ساوې زه به يوا يت په جهان و کړم　　نو رخه نه د حکا يت په جهان و کړم
خو ک به نوم دعمارت دښه بوستان کا　　ښه ځوانا ن به نيکۍ ډېرې صدچندان کا
۱۸]- که سیرزااو که دولت و په عالم کې　　که وا صل که ارزانی و په داغم کې
د ې جها ن هسې پناه کړ ل کله يو شته　　ښا نې يې په عالم کې گفتگو شته
د ې جها ن و سر ه بو تلل صد چندان　　نه يې نوم شته نه يې نخښه نه نښان
دا کتا ب به د مجلس شمع دشام کړم　　په صفت به يې دخپل بابا تما م کړم.

مثال دهغه چې دی خپل هنرو بې هنر و ته ستا يې
چې هغه نه پوهيږ ی چې بد شي

يو ه ښځه په تير و خت په زمانه وه　　په زشتۍ درنګ په ملک کې افسانه وه
لکه بد ه وه په خوی هسې په مخ وه　　لکه تو رهسپی په تو وه نه په چخ وه
لوی غا ښونه داړه وره لو يه خوله وه　　د د ودامه، فيل اندامه په هر څه وه
کته پوزه، و ړ ې ستر کې ، تنکه چينه　　لکه خر ه نه و ه خبر په مهر، مينه
د ا په عقد د نکاح (۱) د نا بينا شو ه　　نا بينا و ته په د ا رنګه کو يا شوه
چې ړانده و رته تکليف د خو لې بو س و کړ　　هغه درنګ يې و رته آه و افسو س و کړ
ړانده وويل چې ولې آه ا فسو س کړې　　سا به تو رلو کې دآه په لمبو اوس کړې
وې يې څه وا يم ړ نده له خپله بخته　　چې يې پرې يستم په خاو رو کې له تخته
ښځې و و يل چې ز ه تر هر چا ښه يم　　په صو رت تر ښا يسته نه ښا يسته يم
لب شکر ه ا هو چشمه سنبل مو يم　　د ر د ند انه لب خندانه پرې ر و يم
۱۹]- دښا يست سې افسانې په هر د يا ر دي　　په هر زړه کې مات زما دهجران خار دی
دآفتاب ښا يست ياد يږي په هر لو ر ي　　افتاب هر سبا زما و مخ ته کو ري

---

۱ — په اصل کې د (نکاح) په ځای (نکاه) راغلی ده.

٦٧سخ [زه‌به‌واړه‌غیله‌غواا وښان‌قطارکړم   همگې به‌صدقه په د غه‌چا رکړم
زه‌به‌ستا د پاره‌راوړم لعل دره   دصحرالمن به درسته‌کړم ترې پره
زه‌به‌درکړم‌ښه‌قماش(۱) تحفه‌تحفه   په داکارو په‌سرومال نه یم‌صرفه

۱ــقماش‌ــټوکر،رخت .

دا خبره ز ما خوارته وسه   په‌بنه‌کا رکې(بنه،بنه) بنه‌وي‌بدوی(نه)
هسې‌نه‌وایم‌چه‌ستاعزیز درگ دی   مجنو ن ستا ددرله سپیو نه یوسگ دی
څه دی سپی څه‌ده دسپیی‌گنده‌لکی   ولې بد نه د ی په شپه لري خوکی
که‌لایق‌خو دې زه‌نه‌یم ددوستیو   ولې سهر کړ ه کم نه یم تراغزیو
اغزی‌کیښوی شي‌په سر ددیواله   لا ره بنده شي په هرلوري د غله
کوم‌اغزي‌که افتاده‌په‌گزرگاه‌شي   هم‌په‌پښو دسړي‌څرخ څرخ بیگاسباشي
دا خبره را شه واور ه دکمین   چیرې نه درڅخه پربوزي په زسین
که‌ډ بو ه‌دچاپه‌لاس‌وي‌شب‌افروزوی   چې‌له لاسه دچاپریوزی خانه‌سوزوی
په‌ویل‌د لیلی پلارپه پیچ‌وتاب‌شو   وهغه وته‌گویا په د اخواب شو
ورته داووې هغه دا ناعا قله !   ای د ا نا د قبیلې د قبا یله !
درته‌وکړم څوخبرې‌که یې‌نغویږي   په رښتیا ویلونه چې وقهریږ ي
چې‌فرزنددتاهرگوره سست‌بدخودی   لیونی‌دی ،دیوانه دی ،یاوه‌گوی دی
۶۸سخ هرسړی‌چې‌کا له‌ده سره‌یاری   زربه و وینی هغه دملک خواري
هرسړی چې یې څوورې وسره   ز رهغه یې د و گړ ي مسخر ه
هرسړی چې وسره‌کا مجلسو نه   هغه‌کس به شي رسواپه اولسونه
که‌وصال یې‌بنه دی تاوته‌هرگوره   هم خوبو یه‌چې‌ځان‌وژغورې‌له‌اوره
که‌هرڅوښه دی دسروزروخنجر   هم خونه بو یه چې‌خپل وهې‌ځیگر
که‌هرڅو ز هرسهره‌لري په لاس‌کې   عاقلان و ی‌بیا له ساره‌په هراس‌کې
را شه وروره‌خوښي مه‌گڼه‌ته‌سهله   لیونی دی ستاپسر، نابود، نااهله
ډېربدی‌وینمه‌ستا دکارپه شوه‌کې   زهرجوړوینم‌پراته‌ستاپه خواږه‌کې
په‌دوستی‌کې‌دې ډېرقهر راښکاریږي   په‌حلواکې دې هم‌زهر را ښکاریږي

دی هرگز په لویه چارنه دی راغلی   دی دعقل په صورت نه دی بناغلی
په درست ښهر کې په فحش و په ښکنځلو   هبطه یې کړ بد نام اسم د خپلو
په عالم کې یې خپل نوم په بد سلوم کړ   حبطه یې په عرب کې د پلار نوم کړ
په درست ښهر کې په بدو یل فحاش شو   له او با شوسره گرځي ، انداو باش شو
د مجنون پلار داووې نیکوکاره   ای د سلک د زماني دا ناهوښیاره
زه پوهیږم چې مجنون لعل پاره دی   هسې مه وایه نابود و هیڅ کاره دی
۹ ۶ سخ داپې و اږه تقصیرات د خور دسالی دی   په شرا بود خوا نی متو الی دی
که ښکاره یې و عالم ته نادا نی ده   نا دا نی په سبب د جوانی ده
د سړي د عمر و نه ځلو یښت کا له   میوه و نیسي ترخه خوږه کما له
خو یې عمر رسید لی ترڅل نه وي   هره و رځ یې وی خوبونه نو ربل نه وي
تر ځلو یښت کا له چې تېر شی نو ربې خوی شی   خو ژ و ند ی وي دا یې خوی شي دا یې بوی شي
که خو کڅ و ایې چې غرو رغی غره ته   ډبر نژ دې ده که د او غو ر ځوې زړه ته
که خو کڅ و و ایې فلانه د کالو چل شو   په پنځو سو خوی د چلو یې بدل شو
د ا خبره هرگزسه سنه ای و روره   د ځلو یښتو کالو خوی نه ځي ترگوره
بارې ستاسې په حضور یې زه طلب کړم   راښکاره یې و اږه خوی فهم ، ادب کړم
چې دی څه د دانایې خبرې کاند ی   که دی بدوی هاله بدوایه ورې ښاند ي
نو رمجنون یې نشانده هغه ساعت کړ   نشسته یې پلار په څنگ کې په حرمت کړ
یو ساعت زمان د پلار په څنگ کې ناست ؤ   سپی یې و لیده یو تو ر کو ته په ځغاست ؤ
هغه سپی یې ؤ په ځا ن د هغې یاري   د هلکو سره ځغا ست په هغې لاري
په تلوا رو ځغا سته سپې ته له مجلسه   نه یې ډار شو نه ئې شرم له او لسه
کښلا وه یې سپی په نو کو په تلیو   پښې تلي یې مښل په مخ په ستر غلیو

وې يې ستا تر لمر سپوږمۍ ګښلی مخ دی — خو يې ږير ږير ګښلو م هو سر ه سپين سخ دی

٧٠ مخ و رسره غاړه غړی غو ږ په غوږ شو — په خار ښت په ګرول د سپي د غو ږ شو

وې ته چي غبر ناري هر سحري کړي — د غلط کاروان په شپه کي ر هبري کړي

د فقير سره په دا خبره جنګ کړي — چي دا هو سره د خپل نس لپاره ننګ کړي

زه راضي يم که د درست کلي خندی شوای — ستا لکی زما د غاړي غړوندی شوای

چي پدر د ليلی د احال و ليد نه — په هر لوري نظر کړ ، و خنديد نه

وې يې دا که دی يو ه زړه په هو ش وای — د تو رسپي سره (١) به کله هم اغو ش وای

داخو يو نه به تري لاړ نه شي دا زده کړه — نو ر تکليف راته بيا بيا دوباره مه کړه

(دا) کيسه که د مجلس و اړه وقوع شي — د بد خو اه به د پيغو ر افتاب طلوع شي

زه لرم غليما ن ډير له خپله کوره — خدای سپي و ژ غوره دوا ړو له پيغوره

زه نابمز ده د مجنون په نام ليلی کړم — ولي څه رنګ د سيالانو تسلی کړم

وس بايده دی چي زما په رضا او سي — په ستنه کو رته د ځان مدعا يو سي

هغه بزرګ د عامر يو ښه يې نو مؤ — په ستنه کو ر و ته لاړ په ځان محرو مؤ

د لګير پاخيده روان په خپل او لس شو
په زړه خوږ په تن رنځو ر ددې مجلس شو

---

(١) په اصلی کی د (به په ځای (هم) راغلی دی .

صفت دمجنون په جدایی کې دلیلې

خوار مجنون چې لیونی دمحبت و — لیونتوب یې وعالم ته هدایت و
لیونی ورته مه وایه زماورور ه — چاچې و وې هغه وسونه، بې اوره
په خبره فهم نه کاوه جاهل — دیوانه نامه یې کښوه د عاقل
دی سالك دعشق په لاره کې کامل و — پرې گومان دلیونتوب مه کړه عاقل و
چې په زړه کې دعشق دلمبو تاوو — په سرواوښیو به یې سخ ځکه ناوو
چې په زړه کې یې د عشق دلمبو تف و — په داجوش یې ځکه تل دشونډو کف ؤ
چې نجیه یې خرقه بانديې زینت وې — پرې اوربشې اچولې محبت وې
په داغونو یې زړه هسې ؤ روښان — لکه ایښې په اوزن کې وي ټا بدان
دی سر خیل ؤ دهمه وغمناکانو — سرحلقه و د همه سینه چاکانو
دی معمار د سلامت د عمارت ؤ — وراناوه یې هغه کور چې سلامت ؤ
په دنیاکې ؤ بې کوره بې بنیاده — دجونگړې له سازو لوؤ آزاده
بادشاهي یې کړه په ملك کې دغمونو — چې په زړه یې وو غمونه لوی ترغرونو
بدنام کړو نی تل دننگ نیك نامی و — ټینګ به لی تل د ځان له آرامی ؤ
په هر ملك یې د اهونو دهقانی کړه — دهقانی یې هم په ملك دو یرانی کړه
دی راضی دخپلې خونې په سوختن ؤ — دی بې ختور ضامند چې بربنډه تن ؤ
۱۷سخ همیشه ؤ بې خادره، بې دستاره — فراغت و داوړو، د سرله باره
چې تو انیرې څوك بربنډه پښې په خارو — غم په څه کاد خپلیو د پایزار و
څه دبل خرمن په پښو باندې دو خته کړې — ستاد پښو خرمن همشته که یې پخته کړې
دی په خلق په عالم نه شو خوشنود — و یې نه لیده په خلقو کې بهبود

صحبت کې د په عالمو درد سر و — ځا ن يې ځکه ليو نی کړ ی ابترؤ

ليو نتوب يې و خپل ځانو ته توښه کړ — په صحرا يې له عالمه ځا ن گوښه کړ

که ته يار غواړې چې تل په سينه (۱) صاف وی — که خو ک ځو ايې چې داشته و اړ ه مخلاف وی

که ته يار غواړې چې صاف لکه او به وي — چې طلب کړې په جهان لړ ي ، دانه وي

ددې دهر سړي و اړ ه ورته بدو و — په صورت و ودسړ يو ، په خوی ددوو

هم بې نماز ه بې گانه ، هم بې ښکا نځنه — دی خو نه و بې ر و ژې نه بې نمانځنه

چې شيطان به د شهوت اغزي کړ ل نه — ده به و اړ ه په لمبه دآه و سو ل نه

د ی د خلقو په جفا کله خبر و — په پيغو ر خندا د چا کله خبر و

که هلکو به په کا نو تل و يشتنه — په خاطر يې گرا ني نه و ه يو و يښتنه

چې باران غوندي يې اوښې په مخ تللې — پر ی يې تل د گناه تو ر ی جامې وللې

چې شيطان به غنې جو ړې دگنا ه کړې — د ه به واړ ه لو لپه په يو ه آه کړې

۷۲ مخ خدا ی و ر کړې و ده ته دالويي و ه — نيک خو يې يې و عالم ته بدخو يې و ه

که هو ښيار و که عاقل و خو همدی و (۲) — چا چې بد و ې هغه خلق ليو نی و

چا چې و ښيله د عشق د مې پيا له — تر قيامته پو رې او سې ستو اله (۳)

ر اشه غو ږ با سه پرې ښه و کړ ه نظر — چې پييم دعشق په سزی در گو هر

بې و طنه سسا فر هغه غريب ؤ — دی دځان له کامر انی بې نصيب ؤ

سر يې تل ايښی دخاو رو په بالښت ؤ — د عالم له جفايی په نا لښت ؤ

دخپل ځان له اسايښه و دی تښې — خو يک لخته و ديا ر و غم ته خو شې

---

(۱) په اصل کی (سپينه سباوی) د ی .

(۲) په (۷۳ مخ) کې دحضرت نو ر خان «په نامه يو سهر هم شته.

(۳) ددې بيت و روسته ديو بيت ځای سپين دی او داسی معلو ميږی چې کو م عنوان به وي.

خو ار خسته دغم له لاسه په هر لو رو   ځان یې سوی لو غړ ن دعشق په او رو

همیشه په بحر و بر هسې گر دا ن ؤ   لکه بادبه په هر لو ري سر گر دا نو

تر پر و نه به لاسخت‌نن پرې لاو ه   په بلا به یې لا بله کر بلا و ه

لایو غم به‌تر ي لاړ نه و ، بیابه نو رؤ   همیشه‌و رته ولاړ په هر هر لو رؤ

ناست‌و لاړ یې همیشه‌و په اغز یو   په‌صو رت‌یې و یښته‌نه‌وو بې اغز یو

نه یې لار و ه‌چې‌و رتلای‌دیار دیار ته   نه‌به‌چاپر یښې غر یب‌و هغه یار ته

په هر سلک‌و رته دخلکو سلا ست‌شو   و رته‌او ر د هر چا پند و نصیحت شو

۷۳سخ [خپل‌بابا یې‌و په‌حال‌د پر یشانو   په طلب و سر گر دان ددر و یشانو

له هر چا یې کړ ه دپیر کامل پو ښتنه   په‌صحر ا په ښهر سر و په غو ښتنه

ور ته‌و وې‌چافلانه‌ځای‌بزر گو ار دی   په عزلت ننه ساکن دیو ه‌غار دی

مستقیم‌په‌شر یعت‌دپاک الله دی   طر یقت په حقیقت و اړ ه‌اگا ه دی

در ست‌حاجت‌یې‌شي‌پو ره‌چې‌سړی ور شي   کشاده یې‌په دعا دمقصو د و رشي

همیشه‌ددین په‌سلک کې‌پادشاهی کا   دیقین په‌کشو ر ناست عالي‌جاهي کا

لوی‌بادشاه‌دی و لې‌نه‌غو اړي‌خر اج   تر ک‌دنیالر ي په‌سر مبارک‌تاج (۱)

په‌ز مین کې‌دگو ښې دی‌قنا عت‌کا   په او بو داو د سو نو ز ر اعت‌کا

تل‌چشمې‌لري چشمې په‌سخ جار ي   پرې‌او دس‌کا، نفل‌نمو نځ پرې‌گذاري

په‌سحر اب کې‌لکه‌ستر گې‌ناست‌دایم‌وي   دفر ښتو غو ندې‌خورا ک‌نه‌خو ري‌صایم‌وي

په خوړو یې‌دنس‌خوله نه‌کړه خوږ ه   تیر و ي عمر په نفل په ر و ژ ه

په‌شکم یې کړ نعمت د جها ن ز هر   بل به نه وی لکه د ي صا یم دد هر

تل‌داني کیږ دي دگو تو په سر و نه   د تسبیح چې په جنت کر ي‌گلو نه

د تسبیح سزی جو ړ لکه کمند کړ   په‌کمند یې تو رسگ دشکم بند کړ

---

(۱) په‌اصل کې‌د(تاج) په‌ځای(باج) دی .

و ر ځځه یو لوی مسوا ک لکه لرګی دی — له لرګیه دهوس دسپي سرګی دی
۷۴ مخ زړه یې صاف کړ په مهره شیشه د صبر — و اړه حال و ته ښکاره دی کو ر د صبر
ذ هقا نی کا د رضا د تو کله — باغ یې روغ کړ په بهشت کې بې کړ له
که جندره وي دمقصود دسړي نښتې — ښې کو نجی لري دی ددعا ګو تې
هر سړی چې سر یدشوی په اخلاص دی — دشیطان له وسوسو نوهغه خلاص (۱) دی
دی په تخت د کشو ر ناست دحقیقت دی — د ی بلبله په چمن دطریقت دی
چې مشکل دسړي پر یو زيو ر ته و رشي — لا یې نه وي لاس نیو لی کار یې سر شي
ر اشه و رشه که په زړه کې حاجت ستادی — په درګاه یې دهر چاحا جت ر وادی
را شه و رشه هغه بز ر ګک دزماني ته — په اخلاص یې کېږ د ه سر و استا نې ته
ګو ندې هو رته وسیله د تا اخلا ص شي — خو ا ر مجنون له درد و غمه، ر نځه خلاص شي
ګوندې در کا ندي و تا د دعا تار — چې پرې و ګنډې دخپل زړ ویه پر هار
فضلیت یې حاصل شوی دعلو م دی — نوم یې پټ نه دی، څرګند دی، په ملک سلو م دی
چې تر غو ږ یې شو دانو م دبزرګوا ر — هدیه و اخیسته په لاس دمجنو ن پلار
چی یې زو یه په عشق سوی سپلنی و — پلا ر یې هم له ډیره غمه لیو نی ؤ
زو ړ سړی وګر ځیده په قامت ټیټ و — یا په بار یې دغمو نو صو رت ټیټ و
۷۵ مخ ګرځېده په صورت کوږ په پښو سپک — لکه څو ک غواړي په خاورو کې څه ورک
مخ یې ز یړ و په غو ښتلو لیمه سره و و — ګر ځیدل یې سم په سمه، غره په غره و و
نجد نوم د یوه غره و لوی څرګند و — په لو ړ وا لی تر اوره نه ډېر بلند ؤ
ا کثر کانی پکې تو ر لکه اسودو — په د اغره کې نو ر څه نه و و دام و ددو و
په لو یی کې ترا سما نه سرفرا ز و — دتهمت د ملا مت له کانیو ساز و
چې په سر به یې بر یښناو ه یا تو را بر — سره بڅر ي و و د آه، لوګی د صبر

---

(۱) په اصل کې (خاص) د (خلا ص) په ځای لیکل شوی .

یکې باد و دا هو نو کړځید نه
چې د یلار یې وې په غم ختلې ستر کې
دی دو نې ترو یخ ناست خسته ز بون و
د جها ن له نیکو بدو و، د ی تښی
بې له غمه بل محروم و ر سره نه و
پلار یې تیت شو خو له یې کښله کړه خوږه
و مجنون و ته یې جوړې د اقصې کړې
ته به څو به دا صحرا کې تګاپوی کړې
تما م عمر به په دا رنګه ګز ران کړې
٧٦ مخ] حیف دی دریغه عمر تمامې شو
تمام عمر دی کړ تیر په و یرا نی کې
هر نفس دې قیمتي ګرا نبها دی
حیف دریغې دروميي را یګا ن
عمر درست په لیو نتوب در یغه تیر شو
هسې کار کړه چې د خلکو خندی نه شې
که دې تل نه شې را تلل د پلار و کو رته
همیشه یې ته له حا له بې خبره
که د ا دو ر د فلک مې کافا نې
په ځان مه پسنده خوارۍ بې ارامی
خوار مجنون شکسته حال و غمزده
وې یې پلاره له ما وتړه خپل رخت
په علاج چې زما بنې ته رنځوې
هم با را ن یکې دا و نیو و ر یدنه
زوی یې و لیده یو ځای په خپلې ستر ګې
سر یې ایښی ییاد فکر په ز نګون و
په محنت کې د غم ناست و خو شې ګو ښی
یې فر یاد ه څو ک همد م و ر سره نه و
په قد کوږ لکه زړ ه و نه کړ ه
چې به څو ته د جها ن خو ارۍ غصې کړې
ته به څو فر یادنارې په های هوی کړې
که به څه هم د خو ښی سر و ساما ن کړې
حیف ضایع و لاړ په کار ځا مې شو
را یګا ن دریغه لاړ په نا د انی کې
نن و تا و ته در کړی خد ای و ړ یادی
بیا به نه وې که پسې و شې ارما ن
شفقت د پلا ر د مو ر دریغه هېر شو
ځان دې هسې شو زبون پېژ ندی نه شې
کله کله دید ن و ړه و خپلې مو رته
کله کله کو رته دروه ای پسره
ته کوه زما په ځا ی ز ند ګانې
چې د رکړ ی ځا ن ساته له بدنامی
په دید ن څه خو د پلا ر شو دمز د ه
ز ه له ځا یه یم را غلی سیه بخت
رو غ به نه شم ته خپل ز ړه څه رنځوې

په داروچي د ماخوار رنخوروي ببني   دمنت توري ز ماپه سينه كنبي
اى زما صاحب قبله پشت و پنا هه   اى ز ماكعبه قبله‌او كارا گاهه
٧٧مخ [هم‌حكيم دزماني هم‌صاحب هو بن‌يي   هر څه‌تاو ته‌بنكاره‌دي پر ده‌پوبن‌يي
خبر دارددرست جهان‌په‌دو ددستو ر يي   چي په‌ما با ندي وايي مقدو ر يي
دريغه ته د چا دميني گرفتار و اى   چي په حال‌څه‌خو زماهم‌خبر دارو اى
كه په‌تا باندي غم راغلى ديلتو ن   تابه‌هم‌وي‌تل‌چي‌كرم‌نه‌دى مجنو ن
كه‌په‌تاپوري‌و اى‌اورد عشق دميني   تابه‌هم ژړل زما غوندي‌سر ي‌ويني
تاته نه‌دى حال دعشق و اړه‌ضروره   ځكه نلري‌په عشق كي مامعذو ر ه
چي‌يي‌سوى‌لاس‌و يبني‌نه‌وي دخپل ځان   خبر هيڅ‌نه وي كه‌سوزى د بل‌ځان
چي‌يي‌مات نه‌وي‌په‌پښو كي و خارو نه   خبر هيڅ نه وي‌دبل په پر هارو نه
ځان‌نو رمه‌خو ره(پلاره) كله‌زه‌په‌پنديم   په كمند كي‌ا و س‌د عشق‌دميني‌بنديم
و كانه ته د حكمت كله مذكو رشي   په‌تو تيا هم‌دړ انده‌دستر گو نو رشي
په‌څو ځله دي په ډير ډير خو اهشو نه   و كړل‌تا زماپه كاركي كوششو نه
ولي بياخوستادزړه‌مقصو دو نه شو   ستا په سعي ز ما نفع سو دو نه‌شو
كه‌له چاوا خلي شړى تو ره‌په سينه   دابه نه‌كړي په‌او بو دزمزم سپينه
زه له ځايه سيه‌رو يم كه مي و ينځي   سپين به‌نه‌شم كه‌سي‌څو په‌او بو و ينځى
ا لقصه چي را ر وا ن كړد يرينه   په الماس يي د وه‌بنده كړه سينه
٧٨مخ [نو ريي‌و ينو ه‌ترلاسو مجنو ن پلار   هغه‌بز ر گ‌و ته‌يي و رو ست‌په‌تلو ار
شيخ د ننه په خلوت كي ننه نماست و   مجنو ن‌و رچينه‌په تمه و رته‌ناست‌و
څو يي نه و لا د ر و يش ‌ا ‌ير ليدلى   پلا رمجنو ن و ته‌و دا نصحت كړى
وي يي‌اى زو يه‌داشيخ ولى الله دى   دهرچا حاجت ر وا دده دركاه‌دى
وي يي اى زو يه‌داشيخ‌چي سړي كسي   ددعاپه لو مه بازد مقصو دنسي

ای زمازو یه له د ەنەدعا غو اړه
شب و رو ز په درکي رغړه و رتەژ ا ړه

ای‌زمازو یه په کاردا خلاص‌او سه
څو درشي‌دعشق‌دا و ر په اخلاص‌او سه

مجنون ننەووت‌شیخ ته پەناکام شو
پەخلوت کي په تعظیم و پەسلام‌شو

لاس‌یي کښل کړ ل هم‌یي کښل کړي‌تلي‌پښي
دو اړەپښي‌ د‌یي په مخ په سینەمښي

پلاریي و رچنه و لاړو رتەطامع و
په خبرو د مجنون د شیخ‌سا مع و

شیخ پەسینه‌په‌تپاکوړ ئیو په غیږ کي
مجنو ن‌دا مذکو رکاوەدشیخ پەغو ږ کي

خوار مجنو ن‌دعشق‌خو ږ لی‌بدګو زارو
زردرو یي په صو رت کي‌جو ږ پر هار ؤ

وي یي شیخه‌زه یوستا کهتر بنده یم
په در بار دي‌په ا خلاص‌سر افګنده یم

ماته‌پلارو ایي‌چي مکړه دعشق‌چاري
زه خو نەو ینم‌له عشقه نو ري لاري

ماته تل‌وا یي له عشقه دی تو به
یي له عشقه له‌نو رهرڅه هي‌تو به

۷۰ مخ] که‌په‌عشق کي‌مي‌و پلار ته‌ګناهي‌ده
هم تو به‌کو ل له‌عشقه ګمراهي ده

چي‌دعشق او به له ځایه راو رغښتي
په‌دماغ کي یي‌زماخاو ري‌و رغښتي

عشق زماپه ځان کي‌ګرځي لکەساهه
کشکي زه په ساهەو پا یم‌ای شاهه

عشق‌زماپه‌دو اړه‌کو نه کي مراددی
چي‌عشق نەلري‌دخدای‌پەبل دریاد دی

زه پەهیڅکله له عشقه نەجاروزم
مړه‌نه یم‌که له عشقه وجاروزم

ای زما مرشده ! زرو کړه زاري
ګوند ي ستا د عاقبوله‌کا با ري

ستا د عاکا د هرچا کا رکشا یي
ما ته پیښ دی مشکل کاردجدا یي

پو رته‌لاس کړه‌اویاته‌په‌رخسارمخ کړه
په دعاراته‌پکا رەدښه یارمخ کړه

ته په سر په سجده ولګوه پیر ه!
دا د عا زما په‌کار کوه په ځیره

چه مجنون له غمەاوري لت‌پەلت
خد ای یي څملوه لیلی سره په کت

که په‌ځان کې زما خور دژوندون دم دی   هغه دم مې د لیلی دمینې غم دی

په‌قیا مت چې پاڅي ډېرعالم سره   ما خدای پا څوه د یارله غم‌سره

زه‌په‌عشق کې دلیلی یم ډېر راضی(۱)   و ایې کښل در کړم په مهر دقاضي

زه‌په‌عشق کې د لیلی یم ډېرمحفوظ   څوک‌به‌وران کا کښلي‌توري‌په‌محفوظ

پلارچې واورېده‌دزویه دخولې‌قول   په توبه، په استغفار شو، په‌لاحول

۸۰مخ [نوریې‌پلارله‌زوی‌والی‌طمعې‌پرېکړې   په‌ژړل‌ژړل‌یې دوارمستر‌گې‌سرې کړې

بې اختیاره یې زړه‌پرېکړله فرزنده   هم یې‌سوړشوزړه‌له نسله‌له‌پیونده

اوله شیخه یې‌غوښتل دزړه دارو   شیې‌یې زړه کړ هم‌له‌دې غمه جارو

هغه زوړشکسته‌حال‌په زړه‌ناتوان‌شو   په ژړا ژړا وکوروته روان شو

حال یې واړه دخپل‌زویه زما یاره   په‌رنگ‌رنگ‌یې کړ دوستانوته‌اظهاره

که‌هرڅوورته دپند کوی نځښونه(۱)   داماهی به‌څوک‌راواخلی له‌سندونه

که هرڅوورته‌حلقه لومه دپند کړي   دامرغی‌به په دالومه کله بند کړي

دی‌په‌عشق کې دلیلی نورهسې‌ر دشو   په دعادکا مل پیرتربد و بدشو

د او ینا ده مشهوره په ملکونه   په‌یاران کې لاشي‌خسادچه‌یارخونه

هغه‌خدای چې پېژانده‌شي‌په‌خدا یي   د مجنون‌په باب یې‌وکښه رسوایی

هغه‌ورځ‌چې یې په‌لوح کې‌نوښتت کړ   دمجنون‌په‌باب‌یې دارنگ ازمیښت کړ

---

(۱) د(راضی) په‌ځای(غازی) لوستل کیږی.

(۱) نځښونه ـ نځوسونه .

نه پەخدا ینه پە کتابەدی نه پەدین دی   دلیلی پە خط و خال یی راست یقین دی

وچی بانی وچوا شەپە نو بها رکره   بایی ور چینی یو ئحای ا نبار انبار کره

شنەبەنەشي کەبارن و ربانديا وري   هوک بە ورا ن کادازل د قسمت تو ري

پەعینک کە د لیدلو درست سداردی   درانده‌سری پەپوزەباندي باردی

۱۸۰خ [پەدنیاجهان را غلی گویانه و

گو یا دی لەسو ره پلارەپیدانەو

* * *

ابن سلام ليلى وزوى ته غوښته

په واده يې راوسته

مشاطه په صورت د سنځ شوه دده ناوې   و هر چا ته يې و ښته پو ښته يې داوى

هغه کښلى ښايسته ددرست جهان وه   چاليد لى په جها ن کى په داشان وه

دسمن ترگل يې سپين دوا په رخسارو   تر و يښتو يې مسخره مشک دتاتارو

په تورو الى يې وې بدې بلاسترګې   په بلا يې کړه بالا په شهلا سترګې

چې دزلفو يې په سنځ باندې حلقې وې   په د اد ام کې نښتې ډيرې خلقې وې

په سپين سنځ يې چې دزلفو دام خرگندشو   په دا دام کې يې مرغى دزړونو بندشو

د سبا با د يې دسنځ د گلو پووور   دښا سپت ثنا صفت يې په هر سوو ور

په دهن کې دهرچا د احکا يت و   په ورق کى د هر کس دا روا يت و

ابن سلام چې په اولس کې ډير نامدارو   هم په خپل کې دعر بو ښه هو ښيارو

بو هلک ورکره ډير په ښه صور تو   هم يې جوړ دښه صورت سره سيرتو

سر دفترو د همه و خوب رو يا نو   سر حلقه و د همز و ليو، د يارانو

چې همز و لى به تري ناست چاپير چاپير وو   د دهو ار ه علامت لکه دنمير (١) وو

پتنګان به تري چاپير وو اکثر جمع   ښکا ريده په تو ره شپه کې لکه شمع

٨٢ سنځ [لا يې نو ى ر سيدلى پر سنځ خط و   چې پرى کحير شوى يو يو حر ف غلط غلط و

پرې عاشق د دنيا خلق تما مې و   په ښايست يې کښلى خط دغلا مې و

---

(١) نمير ـ نمر. په چاپى کى دا بيت دا سى دى :

په مجلس به ور ته ناست واړه چا پير وو — نور به واړه لکه ستورى دى په نمير وو

دده هم په سر کې سینه د لیلی وه   چې سوندلې یې د زلفو په سو داوه (۱)
ځان په هو ښ نه یو خیال خو د لیلی و   په سینه یې کښلی خال خو د لیلی و
زړه او ځان یې درست په سینه کې ګډو ډو   بې لیلی نه شب وروز په نا روګډو
ده یې هم په خط وخال وزړه ورکړی   په کمند کې یې د سینې وسر کړی
چې یې عشق کړه سوو قده په زړه نهاله   نور په در یې شو واقف له دې احواله
ښه عالم یې خبردار په دم درحال کړ   ورښکاره یې د خپل زوی په قیل وقال کړ
خلیفه خانه یې وار ه جمع تار په تار کړه   ورښکاره یې د خپل زوی په هر چار کړه
وهر چا وته یې دا ویل سختا ج   چې اوس وکا نې دده درنځ علاج
هر چا ور کړه وده داد وتسلی   سوی به وریشو وپلار ته د لیلی
ترو داخه شو چې ستا زوی په لیلی غواړي   ترې به راولو لیلی خاندي که ژاړي
وار ه تو لو هغه کار وته روان شول   په خواهش د هغه رسم په درمان شول
چې ارزو یې وه کړه دادر ناسفت کړو   یعنی طاق ګوهر که دو اړه سره جفت کړو
آراسته یې کړل په طور د دو لور (۲)   یو ځو ښه کښلي مریو نه ماه پیکر
۸۳ مخ] هر (۳) زنګي غلام په سرو جامو ګلګونو   ورسره و لکه کسي غرق په وینو
ډیر مریو نه ورسره په تو رکې خونو و   چې بار خو یې لکه زلفې تورچونچونو و
ورسره وې ښې دلبرې که څو ک نغوړي   نوې سیاشت یې وه پر غوړي وبرغوړي
چې تغمې یې د آماس وې په کمر   پټاوه یې په شغلوکې نورد نمر
ورسره ډیر قطارونه او ښان مست وو   واړه لښلي د دلبرو په بربست وو

(۱) په چاپي کې دا مصرع : «چې سوندلی یې له زلفو نه پلاوه.
(۲) — دچاپي (دو لور) په ځای په قلمي کې (در، ګوهر» دی.
(۳) دچاپي (هر) په ځای په قلمي کې (هم) دی .

ورسره هم زنجیرونه هاتیان ئیل‌وو   ددلبرو ترزیورلاندیۆثقیل (٥) وو

دشکرو تربارلاندیۆاو ببان لنگ‌شول   دبارو نو په کبنیبهو لوغو لی تنگ شول

چیۆبنکاره‌ییۆ وعالم وته‌نبات کرل   په‌خو راکئ‌ییۆدرست‌جهان‌سرو نه‌مات کرل

هومره‌زیاته وعالم وته‌خوره‌شوه   په لید ل ییۆ د حرص‌گیله‌ سره شوه

داآسمان‌چیۆدک په‌ستوریو په‌اخترو   دنکاح په وخت تباخ ودکه په‌زرو

په‌داهومره‌دیرسامان په‌چاریۆلاریۆ   خوا هنده راغی‌وکورته دنگاریۆ

دلیلی پدریۆ راغی استقبال ته   دیرعزت‌حرمت‌ییۆورکرو خپل سیال‌ته

راغی‌سخیۆته‌ییۆسپکه په‌بنه‌اتمام شو   منت‌باریۆ په‌را تلل‌ابن سلام شو

په‌گوبنه‌کیۆ سره کبنناستل‌خوشاله   بل سحرم ورسره‌نه‌وییۆ مشماله

ابن سلام‌ورته‌ییۆخبریۆوکریۆ کبنلی   دلیلی پدردزره په تخته کبنلی

٨٣ مخ[داخوابییۆورته‌وکر اهسته   ای په عقل په دانش‌کیۆ شا یسته

زه‌خواهش‌لرم که‌ته‌ییۆپه‌اخلاص کریۆ   دافرزند زماد اخل بندهٔ خاص کریۆ

هسیۆ نه‌وایم‌چیۆستاسیا ل یاعزیزدی   دایوستا ددر په خاورو کیۆیوخیزدی

په خوابییۆ ورته‌ووییۆ خردسنده!   لور زما شه‌صد قه ستاترفرزنده

ستافرزندچیۆپه‌بنا یست کیۆمشهوردی   دسرتاج‌دی هم‌زماد ستر گونوردی

لونه‌کله‌چاساتلی په خپل کوردیۆ   خوچیۆلویه شوه‌په‌عمر دبل کوردیۆ

که‌دپلارکره ویۆ تل په حجابونه   هم‌بنکاره ییۆ ترحجا به‌ویۆ عیبونه

ستاترزویه نه‌بهتردعرب کوم دی   لاد ماپه‌سرلوییۆ چیۆ زمازوم دی

چیۆ هغه‌سبارکه‌راییۆ بنه‌راضیۆکر   په‌مجلس کیۆییۆ حاضردوخت قاضیۆکر

١ــدچاپیۆ(ثقیل) په‌ځای په‌قلمی کیۆ(تقیل) دی .

درست مجلس خبره وکړه په صلاح ‌ ‌ ‌ چې یې وتړی همدا زمان نکاح
فلک نوردوی په چاروریشخندي کړه ‌ ‌ ‌ چې لیلی یې د نکاح په تاربندي کړه
دا احوال چاو لیلی وته ښکاره کړ ‌ ‌ ‌ له غوصې ته یې کمیس، گریوان پاره کړ
نورشوه پیا توه د همزولیولهسروره ‌ ‌ ‌ سینې ووېستهله شرمه لهپیغوره
پهفریادفریا دیې سرې ستر گې ژړلې ‌ ‌ ‌ په ژړاکې به یې داوینا ویلې
ای فراقه! زرسې بیایه که بهښه کړې ‌ ‌ ‌ ای فلکه! تاخه چارې پهما وکړې
سخ که سې خوک په تورهتو یې کاندي وینې ‌ ‌ ‌ زه به نه واوړم هرگز دیار له مینې
زه یم جفته که لیده شم خهشي طاقه ‌ ‌ ‌ بې مجنونه یم په بل باندې طلاقه
په یوه بهسل کې نهوي دوه لاسونه ‌ ‌ ‌ دیوې ښځې رواوي دوه میړونه
په یوه موزه کې ځای کلهدوه پا وي ‌ ‌ ‌ دیوې ښځې به دوه خښتن رواوي؟
داستل د ی هوښیارانو ښه ویلی ‌ ‌ ‌ پهدو وسزو کی یو دردی چاپیلی ؟
زه په عشق کې یم دیار په ځان رنځوره ‌ ‌ ‌ هی توبه توبه د خلکو لهدستوره
زه په حال شوم د مجنون لکه ملنگه ‌ ‌ ‌ هی توبهشه دجهان له دودهرنگه
دخپل ځان سرهیې دارنگ حکایت کړ ‌ ‌ ‌ و هرچا ته یې له بخته شکایت کړ
موریې وویل وهسې ته چې ورشه ‌ ‌ ‌ پهښایست دهغې ناوې دزیو رشه
دښایست زیب و زینت یې واړهور کړه ‌ ‌ ‌ پهدارنگ یې درسمو نوښه خاطر کړه
ه سې کښینو له پاسه په پېړ ی ‌ ‌ ‌ جوړاوهیې خال په مخ ،په سر دړی
هریو خال به یې چې جوړ په مخ تابان کړ ‌ ‌ ‌ پهنو کونو به لیلی له ،ځو ران کړ
وې یې خال بدهپه هغې چې مخ یې لال وي ‌ ‌ ‌ زه تورمخ یم په تور کله زیب دخال وي
خال نمایې په هغې چې مخ یې سوروي ‌ ‌ ‌ زه تو رمخ یم تور په تور کله منظور وي
که سرخې به یې په مخ کړه هسې پوری ‌ ‌ ‌ دې به پریو له په ژړا دستر گو تورې

٨٦ مخ وې يې داچې زه جدا يم له مجنونه   زه خيره لرم په سر واوښيو لګونه
اوس سرخي زما په مخ کله جوړيږي   په سرخۍ باندې سرخي کله ښکاريږي
ليلى بيا په سفيدى نه کړ نور مخ   وې يې ښه دى بې اشنا نه زما تور مخ
آينه يې په لاس ورکړه صفا ډيره   وې يې ګوره پکې مخ زلفې برسېره
وې يې څرنګه ګورم مخ په بېلتانه کې   زما سترګې دى هميش په زنګانه کې
اننا ده په بېهوشى شوه له خوکې   شو کاوه يې تور اوربل د سر کوڅې
مشاطې يې چيلمچي د باندې پريښود   ليلى راوړ زړ يې بيادوړ اندې کېښود
وې يې واخلئ په لاس کې چړې لوى   په دانش کې او من زما کړئ او ينې تړئ
خلقه که په ښا د ى د ليلى ښا دوه   دا خسته لکه ويښته ديار په يا دوه
له غوصې يې مزى پريکړ د ګوهرو   توئيد ل به يې له هر بانه له سرو
ګه ګهې چې يې مخ سر کېښود ل په زمکه   له غوصې يې مشکين عنبر کېښود ل په زمکه
تور بانه يې وهل خار په نرګس پاسه   په وهل به يې حنا کړل دواړه لاسه
له غوصې به يې په کا نې سروا هنه   په ژړا به يې تند ى ټتروا هنه
مضطربه په غمونو کې د ياروه   تا ويده لکه په ملا وهلې ماروه
چا يې مور کړه په داحال باندې خبره   چې ليلى محبت نه کا له شو هره
٨٧ مخ ليلى داوايې ښکاره نه چې پروونوم   زه ناسز ده په ازل کې د مجنون وم (١)
هغه ورځ چې دازل حصه وېشه شوه   د مجنون مينه زما په زړه وکښه شوه
نور يې مور په داويلو شوه بې تابه   په غوصه راغله ليلى ته په شتابه
وې يې لورې! راشه واخله نصيحت   مور ږهم مکړه فضيحت ځان فضيحت
که راضي نه شې په دا رسم آيين ته   عزيزان خويشان به وارو کړې غمګين ته

١- يادونه: د دې مخ په حاشيه کې دغه بيت راغلى دى: بل دويم شاه پسرو سر انديب ته په سفرو.

گەته خولە پە دا و يلو كې گندە كړې
خپل پر دى بە پەاو لس كې شرمندە كړې

ليلى وارويد لې دا خبرې زهر
خپلې سوروتە يې وويل پە قهر

پەداباغ كې چې بلبلى پەفغان دي
وايي داچې خو كەبې عيبە پە جهان دي

يوبې عيبەسړى نشتە پەهيڅ ځاى
هرسړى لرى عيبونە مگر خداى

عشق زما پەځان كې هسې رنگ گډو ډشو
هم سې ځان شو هم سې گوشت هم سې پوست هلەشو

عالم څەلرە زماپە حال شرسيرې
هرسړى پەمصلحت دځان پوهيږي

پلار زماسرەڅە كارلري نيكەخو يە
كلە چرگ كښېني يو درنگ پەخپلە هو يە

زماڅە غرض دخو رلە غم سرەوي
كلەدوە ورځې يوځاى يې همسرە وى

سورې نەلرم لە هيچاسرە كارخپل
پەجهان كې هيڅوك نەلرم بې يارخپل

نەدچاپە حب آئين نە پەمذهب يم
زەلەځا يە د مجنون پە دين مشرب يم

۸۸ مخ بې اشناو رڅخەلاړ انام لەستر گو
غم پيدا شو د سپەپا دام لەستر گو

تو يول يې پە سمن باندې گلاب تل
پەسرە او ريې پوړ و هل دستر گو آب خپل

خو اناخو ايې بې رضاليلى وادە كړە (۱)
پە ژړايې رسيدە د خسرسرە كړە

ورځ پرې تيرە پەداشان شوە راغلە شپە
د غم د هريې مخ شين كړ پە چپە

لكە ناوې تەهمزولې راغلې جمع
هسې راغلې ورتە تولې لكە شمع

ځاى وا ړە پە عنبر و معنبر كړ
درست عالم يې پە بويونو معطر كړ

پەمجلس كې بلېدە شمع كا فورەوه
لكەرون پەشب نو خط كې درستەنو روه (۲)

۱— پە چاپى نسخە كې (وادە) پەځاى (سورە) دە ::

۲— داسې لوستلە كيږي (لكە زوړ پەشب...) خو پە هرصورت يې معنا ښكارە نەده.

نور ظلمي و خوټ په کټ دهغې کښېنلي — کښېنلي ناسته په پالنګ ده مخ پوښلي

چې دی و خوټ په پالنګ دننا وې پاسه — په با زی یې و را و ړه ده کړل ده و اړه لاسه

نو رله قهره لیلی و ژړل و رټ و رټ — لټ په لټ یې په څپیړه کړ په کټ

وې یې سه خوره داحلوانه لري کوسی — و لې یې سه بو یوه ګل ته لري دوسی

وې یې دې سیوې ته سه ګو ره ګسټا خه — دا سیوه پر یکړې نه ده چاله ښاخه

د حیات او به هم خوګه په تلاش سوسي — بې نصیبه به خو ګه ګوټ دا و ګرې شوسې

په دا تخت باندې ناستی دی د تاجدارو — دا خطبه ده په نامه د شهریارو

زړو ز دروسه کور ته ځان سه رنځوه ته — زړه په دا سکنجه کې نو ر سه سکنجوه ته

٨٩سخ که جهان دانه رانه کړې لوسه لوسه — داهو ښیار سر غې به بندنه کړې ای شوسه

بې هوده لاسونه سړې سینه سړې — خو له به در نکړم که او سو سړې له لوړې

که درست عمر په دا سعې تلاش تیر کړې — دا مقصود به حاصل کله لږ و ډیر کړې

راشه دروسه بې هوده په دا هوس یې — په عبث چار و پسې عبس عبس یې

دهقان و کاندې محنت کوښښ په باغ — سکه میوه دې رایګان وخورې د باغ

که هر چند سعې تلاش د هغه سر د شو — و ر که یې کله په دارو د تلاش در د شو

چې حاصل یې ځنې نه شو خپل مطلب
عاقبت یې طلاق و رکړ په غضب

مجنون خپه شو چې لیلی یې واده کړه

دیو خط په کښلو داملی زهیر شو

چې منشي د کتابت یې خدای بیلتون کړ (۱) — مندرج یې په داخط کې دامضمون کړ
خوار غریب له ملکه تښې په هیوادو — په هر ځای د خوښی هیر وه د غم یاد و
یوه ورځ له خلکه تښی په زړه تنګ و — چې له خپله توره بخته په جنګ و
باندې راغله یوه ښځه په قد خمه — غا ښ یې نه و خوله یې ډکه وه له غمه
هم په عمر وه ترسلو کالو ډیره — د روزګار یوه بلا په تندي تیره
دا په ژبه وه ترخه په زړه کږه وه — په ظاهر باطن کې تل کږه وږه وه
بیا همزولی د هغو وه چې زاړه وو — په خبرو یې داړل کړل غا ښ یې نه وو
۹۰ سخ] چون چون و چولی هیڅ نه وپکی صبر — په مثال لکه هوا وه پکې ابر
په دید ن په شنید ن واره ناسا زه — خوله یې توره دلحد غونډې وه وازه
مکاره وه مسخره وه بیا وه ګوی وه — خوله یې ډکه وار ه خوساد فتنې بوی وه
سخ یې درست نالې نالې و ګونځې ګونځې — تو ئیدې د فساد سپږې له برسنځې
لکه خوکه چې غمزده وی زنګیدله — د مجنون غریب په څنګ کې ګرځیدله
د خپل ځان سره له مکره ډکه ژاړه — په ژړا یې داوینا وکړه په غاړه
دریغه دریغه عمر تیر کړای تنها ګوښی — په صحرا لکه هوسی له خلکه تښی
د ریغه د ریغه د فلک له نیرنګی — مصلې وکړای په ځان د ملنګی
ناروا چارې چې وینم له جهانه — ولې نه اوري شنه کانې له آسمانه

۱ — دامصرع په چاپي: (دی راوی چې د مجنون بیان بیلتون کړی دی.

ذ ا دبدو خبر ما و ته نن چا ووې
دا خبره په دروغ نه ده رښتیاده
چې پر ون یې کړه لیلی و بل ته ناوې
په سرا د زما نه کله دهرچا ده

خو ار مجنون دیار په غم کې و زبو نه
وې یې څه غو اړې داخه ژ اړې ای ښځې
سر یې پو ر ته کړ د فکر له زنگو نه
له کو م ځایه یې ر اغلې چیر ته ته ځې

په کو م ملک لرې استو گه، چر ته خو نه
وې زما دلیلی کو ر سره یو څنگ دی
ستا په سنځ و لې دا و ښیو ځې و ر څو نه
ملاقات مو هر ساعت په هر درنگ دی

۹۱ سخ [نن و ما ته یو ه کس خبره و کړه
څر نگ نه ژ اړم په ځان لکه او ریځې
چې لیلی یې پر و ن و رځ چاته و اده کړه
چې لیلی یې له مایو و ړه پر و ن و رځې

او س به زه د کو م سړی سره بېو و ر کړ م
چې لیلی په سخ ډېو ه د کل عالم شوه
بې لیلی به او ر په ښهر هم په کو ر کړ م
بې لیلی نه ر ناو رځ په ما تو ر تم شو ه

وې یې ته څو ک یې ببدیا کې دیو انه یې
ځای دې کوم، سلک دې کوم، کوردې کوم دی
خو ار خسته ژ و لیده پر و ت په و یر انه یې
پلار دې څوك، اصل دې څه، څه دې نوم دی

وې یې مه پو ښته ما خو ار له اصله نسله
خو یو ز ړه سې دلیلی په سخ مفتون شو
زه خبر نه یم هرگز له خپله ا صله
هاله نو م و ز ما قیس، او س مې مجنون شو

ښځې و وې هیڅ خبرې لیو نیه !
چې لیلی پر و ن و اده لاړه سو ر ه شوه
د لیلی په غم کې سو یه سپیلنیه
په تا شپه شوه دا ډیو ه دبل کر ه شو

ستا استو گه یې لیلی په خرا بی ده
چې له تا سره یې ا وی یایې سو گند کړ
داد بل سره په کټ کې هم خوا بی ده
له تا و شلیده له بله یې پیو ند کړ

او سنی یار یې په لاس کې لکه جام دی
ته دد ې له غمه پر و ت په سینه سوی
دې په خو له پو رې نیو لی صبح شام دی
د ې نیو لی د ی په خو اپو ر ې یارنوی

ته ددې له غمه د ر ست دمړ ه په خیر شوې
لکه مړ شي دچا هیر ، هسې یې هیر شوې

۹۲ مخ چې داشان خبرې وکړې هغې پيرې   بیا مجنون ووې ای پیرې بلا پیرې (۱)

چې مجنون یې شنیده واره قصې کړې   د بدن یې ختې خیرې له غوصې کړې

نو رله سوخته یې دزړه کړه خامه سازه   ناصبور په دا مضمون کړه نامه سازه

د مجنون قلم عجب په خرام راغې   د غوصې په لاره دی چې په ګام راغې

وې یې ای یاره بې مهره بې وفا شوې   بد قولې د یې له ساو کړه د یار د چاشوې

یارد یې و نیوه په غیږ کې په خرسک شه   ای دلبرې! نوی یار دې مبارک شه

خرنګ هیر شول ستا په زړه کې سوګندونه   خرنګ وشلید ل د مهر پیوندونه

که دې قول سوګندات کړه، بې وفا شوې   تر و په حق دننګ کې ولې نابیناشوې

لاس خو مه اخله د نوي یار له دوشه   زوړ یار هم قدیمې مه کړه فراموشه

ښایسته که په ښا یست کې لکه ګل وي   ورسره د جفا خار و خس چغل وي

ستا په غم کې مې خوارۍ کشیده کړې   طعنه ها مې د وګړي شینده کړې

ما د او ښیو په اوبو چې لویو له   ستا دوني میوه نو روو خوړله

ستا په عشق کې زما کور وواره تالاشو   ستا د مخ وننداره ته بل پیدا شو

ستا وعدې واړه په مکر په لباس وې   په دروغ دروغ سوګند په زړه د پاس وې

۹۳ مخ خو که به څه اعتمادات په یارۍ کاندي   اعتبار د سړي شته په عمر باندې

که په تا کې بې جفا نه وفا نشته   په دا هم شنکر د عمر بقا نشته

که دې پټ کړ خال زما له سترګو تورو   بیا دې خال کړ په مخ تور کسۍ دنورو

هغه خال و چې زما په سترګو حک شو   په لیدو دنورو غیرو مر دسک شو

زه خو ستا له غمه خورم د ځیګر وینې   ته شرا ب څښې د بل یار سره په مینې

ستا په غم زما د خوار سوې سینه ده   ستا په زړه کې ګوره څورنګه کینه ده

---

(۱) و روسته څه کمبود اټکل کیږي.

ستادشونډو په بوسه که خوشې نور کا زما زړه ننه کباب د فراق او ر کا

زه هم ستاله غمه پروت گوښه کنا ره. ته له بله سره کړه بوسه کنا ره

ماو تابه داجهان په زمان هيڅ کا عاقبت به داروش دجهان هيڅ کا

چې مې وليده جفا هرگوره زياته داگيله مې ځکه وکښله وتاته

زا ړه يار سره که نه کوې وفا داهم ښه که ورسره نه کړې جفا

دسخ خال په زړه زما هم تورېو داغ دی په تورتم کې راسره لکه چراغ دی

ييې زر په لاس کې بندداکاغذ سپين کړ په سرو اوښيو يې تمام سره رنگين کړ

پرې يې و کښل دليلی دپيغو ر تو ري پرې يې کښنو ل دغم تکی لکه ستو رې

معطر يې بيا د مشکو په نافه کړ په ښه شان يې بيا په سينه لفافه کړ

۳۹ مخ [يوسړی يې کړ رخصت دشوق په آس وې يې وړ کړه دمکتوب ديار په لاس

چې ليلی ته شو ښکاره د خط مضمون په خون خون به يې ژړل دې په چون چون

و ريتيده لکه په اور کې سيځی سپاندې نور ديوات کاغذيې کښنو دلدو ړاندې

لکه خط له ډيره قهره پيچ وتاب شوه

و مجنون و ته دخط په داځواب شوه

خط دليلى په خوب د مجنون د مكتوب

داسكتوب چې په نامه د پاك بې نيازدى   و ر ښكاره د هر سړى دخا طر رازدى

دى بې ستر گو د هر ځاى په ننداره دى   دظاهر باطن احوال و ر ته ښكاره دى

د هرچا فعل و عمل و ته د ى گو ري   ښكاره و ينه په جها ن د ازل تو ري

بيا د پسه په سل رنگه په تقرير   د زړه حال به سر له سره كړم تحرير

دا په خط كې مضمون كله په خطا دى   پس له شوقه نه سلام زما په تادى

هو سره شوق لرم چې نه شم در ته كښلى   لكه گو نگ د خوب احوال نه شم و يلى

ځان سې و سو، زړه كباب او شې بهيرې   چې بې تا په ماتير يرې خد اى پو هيږي

ستا د زړه احوال په خط كې را ښكاره شو   په ژړا سې خاطر درست پاره پاره شو

هرچې تا په خط كې كښلې دي خبرې   د ا خبر ې دي زما له حاله لرې

ستا دخط خبرې واړه دي بې خوند ه   رحم نه كړې په ماولې خودپسنده

٩٥سخ] هغه شونډې چې په خوب كې و ينې سرې   ستا شراب دي په نو رچادي و ينې سرې

هغه درلا هيڅ سړي نه دي پيلي   هغه شهد لا مگس نه دي ليد لي

افسانو ته سې دخلكو غو ږ كا نه كړ ل   و كتو ته سې دستر گو سيخ با نه كړ ل

كه هر څو په داخو را ك راضي كو ته و   ستاسو چه خو را ك په دە لكه جو ته و

هغه څيز چې امانت دى تا سپا رلى   لاسې نه دى په هيچا باندې خو ر و لى

اما نت د اسا نته لاسهار دى   هر زمان چې غواړې پر و ت در ته تيار دى(١)

نه پو هيږې چې زما هو رې كار نه و   په تړل كې سې دمهر اختيار نه و

هر كا لى چې را څخه د تا مقصو دو   مدعي په هغه څيز كله خو شنو دو

---

(١) دابيت په چاپي كې (امانت دى امانت لاسهيادى- هرزمان چې حو رى دى پرو ت درته (ا شيا دى) .

ستاله یادو مې یو درنګ زړه خالي مه شه　　خدای مې تل لره په د افکر کې خوشه
په پېغور پېغورسې مه وژنه په قهر　　په خوږ خو لیو باندې مه خوروه دیر زهر
راغی ستادخولې مکتوب په پېغور ډک ؤ　　په پرهار باندې زما لکه نمک و
سکه زما په هرې چارې بد نظر یې　　چې له حاله احواله بې خبر یې
ستا په ښو که لږ و ډیر مات شي خارونه　　هغه خار زما په زړه کا پرهارونه
که تنها که دې په ښو کې چیرې وچوي　　ستر ګې سختې دې چې دوی په ژانه چوي
که تنها کې د ې هر ځای و چوی په ښو کې　　ستر ګې و چوم د او ښیو په و کښو کې
۹۶ مخ] چې ګوزار دې هره شپه د آه ناوک شي　　هغه و اړه په سینه کې زما لک شي
چې همیش ناري وهېنه توبه توبه　　دې نارو دې کړې زما ستر ګې بې خوبه
ستا د زړه آتش زما خونه سکاره کړه　　د آه دود دې رڼا و رځ په ما تیاره کړه
چې له غمه دې و کاږم څو څو آهه　　په آه و نوسې په شونډو راغله ساهه
زه پو هیږ م چې ته یار و مهربان یې　　و لې څه کړم چې هر ګو ره بد ګومان یې
په لیه خبر و زړه بد کړې بې دریغه (۱)　　ستاله دې خو یه زر لاړ، ای دریغه دریغه
قهر مه کوه زه خود یم شرمساره　　یک تنها یم په ګوښه کې بې غمخواره
څو به ژاړم ستاد ې ګیلې له تیغه (۲)　　که زه مړه شم بیا آرمان مه کړه بې دریغه
هي فریاد تهمت طلب بهانه جو یه　　خو بړه خو له لرې شکرې، زهر ګو یه
ستاد خولې سختې مې نه و ه اروید لې　　چا تلخي دپاسته مغز نه ده لیدلې
غو څول کا آه بید ا د له تا فریاد　　ژبه ستا ده لکه توره د پولاد
که هر څو په ځان کې زړه افګار لرې　　هم خو بیاد تللو خپل اختیار لرې

(۱) داعبارت په چاپي کې (په دروغ خبر دې زړه بد کړ بې (دریغه) ۰
(۲) په چاپي کې (څو به زار کړم) د (څوبه ژاړم) په ځای.

درد وغم که چاته ووایي دخپل
که دي پښې چیرې له کوره شي بیرونه
زه خوستا له غمه تل پهٔ زړه خسته یم
٩٧سخ] که له غمه دې فریادو کړم پهٔ زوره
هم ښکنځلې راته پلار کا هم سپی مور کا
خیلخانه شي له ماوارہ گیله منه
محرما نو ته که وایم حال د زړه
له ضروره حاله ووایم رازونه
پهٔ نوکو نو پهٔ سینه باندې پرهار کړم
چې دچاپهٔ سرگی(١) سر یا پلار یاو رووي
زه هم کښینم له هغو سره ښکاره
آه که وکاږم زه ستا پهٔ بیلتانه کې
پهٔ داهو سره ښتو نو کې خواخوږې
هرساعت چې دا خبرې راستوینه
که سپي ناچوې پهٔ اورسرې اوبه
افتاده ته که ورنه کړې دواړه لاسه
پهٔ پرهاد که سر هم نهٔ ږدې ولې بویه
ساپرها ردرته ښکاره کړد غمونه
٩٨سخ]ساخو شرحه دغم وکښه پهٔ تمام

هم به ویره د رټخه نه وي دبل
څوک به نهٔ وایي چې چر ته ځې مجنونه !
پهٔ گوښه کې له خوارۍ نشسته یم
یاخپه شم وځم ورچینې له کوره
پیغورونه راته خورکا هم سپي ورورکا
څیروي سې غم د ننگ ونام لمنه
پهٔ څوځله نظرو کړم وروستوزه
هم دې اوري که څوک ناوري آوازونه
بهانه کړم داآزار، ژړا،زار،زار کړم
چې له غمه یې ژړا کا ناست پهٔ کوروي
ستاله غمهٔ و هم کوک پهٔ کوک ناره
وایم درد لرم پهٔ ننه لړمانه کې
لایې بیاد پیغورونو پهٔ تیغ کوږې
پهٔ هردم سې ودوزخ ته استوینه
هم خو مهٔ سیځه پهٔ اوربانديې واښه
لتې مهٔ وهه د دهٔ د سرد پاسه
چې یې نه کړې پهٔ پرهار کې مالگه تویه
خدایزده تازده چې یې نه کړې سر همونه
اوس ترو تازده چې څهٔ وایې والسلام

* * *

١— دچاپې د(سرگی) پهٔ ځای پهٔ نسخه کې(زمکه)دی .

چې مجنون و ته خط و رغی له دوسته		لکه زړی د بادام و وت له پوسته

داسکتوب یې چې سر هم و د پر هار		کښلاوه یې زر یې کښیښی په دستار

چې یې ولید وا ړه عذ ر د لیلی		څو یې لوست هو مره یې شو له تسلی

چې یې درست تر نظر تیر سکتوب دیار کړ		او یې زاندې په سینه لکه تو مار کړ

وې یې دا سکتوب زما تعو یذ د ځان دی

له بلا او له رنځو نو پرې ا مان وی

* * *

دمجنون دراو ستلولپاره دملګرومصلحت (۱)

چې کال تیرشو بهارثوی راپیداشو
روح پرور، لکه دم د مسیحاشو

دوباره شو هرد رخت په خنداافاش
شګوفه یې ښکاریده لکه سپین غاش

راښکاره کړه شګوفې میوه کچه
لکه و لید شي په هو یه کې بچه

سپینه‌و رخ به‌توره شپه وه په‌وریځې
توري شپې په‌شګوفه‌وې لکه ورځې

په‌سپین‌مخ باندې سرخي‌پوري کړه‌ګلو
داسرخي‌په‌ځان سوراو رشوه دبلبلو

لکه سرې شي په حنا دجونو پښې
هسې سرې وې په لاله دغرونو پښې

له مستۍ واړه کانې دژاله وو
سرې‌پیالې‌یې ماتولې دلاله وو (۲)

آوازونه په هرلوردریږیدل وو
ګل‌درف‌پانې پرېپورې‌جلاجل‌وو

[۹۹سخ] هیڅ لیدل نه‌شول په‌ستر ګوخس‌خارونه
خوګل‌ګل‌وو خاورې‌زمکه دیوالونه

چې ساغربه‌په خوله‌پورې‌ددلبر شو
درست ساغربه‌یې‌په‌لاس کې‌ګل‌دنمر شو

یکی‌ناست‌و اړه همزولي‌دمجنون وو
چې‌مجنون و رسره‌نه‌و ډیر محزون‌وو

همسر و دو، همشراب‌وو، هم کباب‌وو
چې‌مجنون‌و رسره نه وو، ډیرخراب وو

و اړه‌راست‌په‌مصلحت کې‌لکه‌تیرشول
د مجنون دراوستلو په تدبیرشول

وې یې را شی‌ء مو ږه‌و اړه سره‌تېول
ورته نیسود زاری منت‌کچکول

ګوندې‌راشي‌د بهار په‌لیدل ښادشي
دفراق له دردوغمه لږ آزاد شي

ښه‌بهارو، ښه‌یې‌ګل‌وو، ښه‌یې‌بوی‌وو
زمانه‌ښه‌وه، ښه‌وخت وو، ښه‌هم دوی‌وو

---

(۱) په‌اصل کې عنوان نه‌لوستل کیږی .

(۲) دا دوه بیتونه په‌قلمي نسخه کې‌ښه نه‌لوستل کیږی‌له‌چاپي سمولي‌ګل‌شول .

چې په حال د خوار مجنون لکه باران شول
په هر ځای یې له هر چا نه کړه پوښتنه
یو سړی هم له ځنگله را ښکاره و
دوی پرې غږ کړ چې په سر دې لوی ځیله‌ی دی
د خپل وخت و یو ملوک که چا لیدلی
وې یې او س په فلانه ځای کې دا ساعت
ماله لرې پرې نظر و کړ له و رایه
نور روان و هغه ځای و ته یاران وو [سخ ۱۰ • •
له ددانو سره ناست په ډیر خوشې و
هر سړی چې له عالمه زړه فرار کا
د صحرا تنځري (۲) و اړه دده صید شي
پلنگ شیر به په لکې و رته جاروب کړي
چارچاپیر و رته پراته تور سپین ماران و و
وخوراک و ته به تل ا هو نخچیر
چې سلول به شو په غم کې یو ذره
په فراق کې د لیلی په تور و ستر گو
چې و ریاده شوه دیار د قد څو کې
چې ژړا یې شوه له زلفو له کاکلو
چې له و رایه و رښکاره و رته یاران شول
و اړه خو بڼ راغلل خو گام و رته نیژدې
و رته پاخیده مجنون په جوړ سلام شو
یو زمان و رسره کیناستل خوشنود ه
نو ر روان د ښخد په لوری ته و ل یاران شول
په سیدان په ځنگل سر و و په غو ښتنه
سر یې تیټ بیا د و ښو په پشتاره و
در ښکاره د ر ته هر لوری، هر لگه‌ی (۱) دی
رایې و ښا یه که نن وي تالید لی
مالیده یو سړی ناست ډیر فراغت
دد، و حشی و رسره ناست و و بې پروایه
مجنون ناست و، و رسره ددان لیوان و و
په دهشت و رخخه کله هیڅ وحشي و
خدای و ده ته دبید یا وحشي قرار کا
بې دامو نو، بې جالونو و ر ته قید شي
درسته شپه به یې و سر و پښو ته خوب کړي
حلقه شوي د مجلس لکه یاران و و
ورکول لکه پې زویه و ته شیر
په بازی به خوښا وه د اهو بره
خوښا وه اهو بره په تور و ستر گو
تسلی یې کړه د زړه په ېږ بو ګی
نندا ره یې په صحرا کړه د سنبلو
تار په تار و رخخه لور په لور ددان شول
په تعظیم شول په سلا م و رته نژدې
و رسره غاه غږی د هر کدا م شو
پوښتیده به یې مجنون له زیانه سوده

---

(۱) لگه‌ی ، لگه ، شیله .

(۲) په چاپي کې د تنځري په ځای (نخچیرا ن) دی.

۵۱ مخ] وار وجوړ سره یک رنګ یو یې آواز کړ — نصیحت یې په ورو، ورو ورته آغاز کړ
وې یې ته به دا خواري څکوې ترکومه — دا محنت انتظاري څکوې تر کومه
ستا که او ښې ځي له غمه په مخ باندې — لیلی ستا له یاری تښتي مخ په وړاندې
ته به یاره یې خراب په خرابه کې — داو بل سره ده لاغ (۱) و په لابه (۲) کې
له نې پسه دخپل ځان په شیرازی شه — خبر دارځه خو د دهر په بازی شه
پاڅه وګرځه موسم د نوبهار دی — شګفته په هر دیار کې لاله زار دی
ارغوان دي شقایق نرګس سنبل دي — چې نظر دستر ګو لیګی هو سره ګل دي
دچمن صحن چاندي راسپیل چنبیل کړې — دلاله ننداروسرې دغم لمبې کړې
دصحرا پښتی شوي سرې په سروګلونو — لکه ولګي سو راور په لویو غرونو (۳)
ولې پاڼی لکه ژبې هم اوږدې کړې — په هر ځای یې دبهار زیری مژدې کړې
په د اهسې ښه بهار کی دا محنت کړې — رنځوری ولې په ځان داشقت کړې
غونچه تاغوندې په باغ کی وه تنګدله — په دا هسی ښه بهار وخند ید له
راشه دروم ه تماشه د نوبهار کړه — په ښه کار کې سستی مه کوه تلوار کړه
دیارانو سره تل و لا ړنا ستی کړه — په خپل کور کې مشغول لا خندا نماستی کړه
څو ژوندی یې په دنیا کی خرمی که — داخو رځې عمر تیر په بې غمی کړه
۵۲ مخ] په ځوانی کې هوس کړه که لږ و دیروي — په پیری کی چی ارمان کړې و اربه تیر وي
خوار مجنون و د فراق غشې خوړلی — چی په زهر و دعشق تو بری لړلی
د یارانو په خبرو لکه اورشو — په دااور یې ننه زړه لکه تورسکور شو

---

(۱) لاغ لوبه، ساعت تیری.)

(۲) لابه التماس، هیله، ژاري په (۵۲ مخ) کی هم راغلی .

(۳) دچاپي (په لویو غرونو) په ځای پر قلمي کې (سروګلونو) دی.

نرم نرم يې يارا نووته ووې   چې زه درست په داپوهيږم تاسې شه وي
ولې زه ديار په غم کې فراغت يم   تاسې غم کړئ دجنت، زه په جنت يم
چې ليلى را سره نه وي که لاله وي   هر لاله لکه تنور په اورساله وي
هر يو زړه چې په فراق کې مشوش وي   کله دى په ننداره د بهار خوشوي
نورعالم که په داباغ کې نرګس کسې   زه بخه کسم چې نه وي زما کسې
بې اشناسى که ګذر په لاله باغ شي   دوازه کسي مې په سخ لکه تورداغ شي
بې ليلى نه که وباغ ته ګذروکړم   کسي ګل شي که په ګلو نظروکړم
زه چې بيل د ارغوان کړم ننداره   آه مې ځان سيځى د زړه په شراره
تاسې د روسى عفراغت خپل کاروبار کړئ   سرحمت ساته د يارد خيال ګلزار کړئ
په سړ يو کې رښتيا او حيا نشتــــــه   په د لبرو کې وفا او رښتيا نشته
ماته ښه دى هغه سړى چې موافق وي   تر هغه ورور ه، اشنا چې منافق وي
دعالم له اشنای اوس په ځان شوم   له د دانو ځکه خو ښ په بيابان شوم
۳۰ اسخ هر سړى چې دياری دم و هي   په غيبت دوروستو سر قلم و هي (۱)
رو برو دې صفت وايي له ضروره   پسې شا دې سر و هي دعيب په توره
د پيغور توره د هريوه اشنا د ه   دوروری توره په لاس کې پسې شاده (۲)
په دادهر کې يو هسې آدم نشته   چې بارو نه يې په سر باندى غم نشته

(۱) دا مصرع په چاپى کی (دغيبت په تيغ د سرقلم و هی) .

(۲) په چاپی کی د پسی ستا په ځای (دهرچا) دی .

یار که ماسره‌یاری که‌زه‌یێ یاریم   که‌یاری‌نه‌کا له خیاله یێ کناریم

چی‌یارانو ته‌یێ‌حال واڕه بکاره‌شو   وێ‌یێ‌دی په‌عشق کێ خوارو بێ‌چاره‌شو

وێ‌یێ‌دروسیه اوسو خدای‌و ته‌سپارلی   خوارسجنون دی‌دفراق‌لیوه‌داڕلی

ودانیو ته‌روان شول یاران واڕه

خوارسجنون‌یێ‌په‌خای‌پر یسو دپه‌او جاڕه

* * *

مجنون ته په خوب کې د لیلی ورتلل (۱)

داچې کوږې لاجوردهٔ اسمان شین شو — په تیاره کې د شپې پټ ګل د نسرین شو
که یو ګل ورڅخه پټ کړ توري شپې — بیا یې ورکړې رنګارنګ د ګل دستې
توري زلفې په مخ توروي ښته نرۍ — پوښیده یې کړ سپین مخ د مشترۍ
خوار مجنون له زماني په شکایت و — وسپوږمۍ و ته ګویا په دا ایت و
وي بې زه په جدایۍ کې ډېر ناتوان شوم — په ژړا ژړلو درسته شپه په ځان شوم
بیلتانه راڅخه ورک فراغت خوب کړ — بې خوابۍ مې د ځان لاډېر لیونتوب کړ
۴۰۱ مخ] دا نن شپه شوله بیا تیره په ژړا — شپه نور نه کا په ژړا زما خندا
درسته شپه که په ما د ارنګه تیریږي — نور مې طمعه له ژوندون نه نه ښکاریږي
د انن شپه شوه په مالو یه نهایت — مګر و وینم سبا د قیامت
لکه مخ د لیلی ورک شو سپین سبا — سپینه ورځ شوه اوس زما د خولې خندا
د افسوس لوګی مې تور لکه وریځ شو — مخ پرې پټ د ستاره هم د وریځ شو
درسته شپه یــې په ژړل په تلاتوب — او ښیو یو زمان ورنه کړ ځای د خوب
بې د آه لوګی نه و څوک همدم — هغه هم ورڅخه ورک شو په تورتم
درسته شپه به یې شکوه له جدایي کړه — د آهو نو په لمبو یې رڼایي کړه
درسته شپه ور باندې تیره په ژړا شوه — درسته ورځ ور باندې تیره بې خندا شوه
په سینه یې بلیدې د هجران ستې — ولې څه خو یې سحر کړې سترګې پټې
ده خوب ولید هغه بلاغو ښتونې — چې لیلی کړ راښکاره مخ تر پړونې

---

۱ — اصل عنوان نه لوستل کیږي.

پهٔخنداٗ په تلطف را غله بېد رنگه　　لیلی کیناسته یو درنګ زماله څنګه

په اول یې دبوسې وعده درسته کړه　　بیا په لاس کې یې زما دګل دسته کړه

دو اړه سترګې یې کړی پورته په دو لاس کې(۱)　　ګلدسته یې جوړه ولیده په لاس کې

ددې خوب په لیدل درست متحیر شو　　په دا حال کې مجنون درست متفکر شو

۵۰ اسخ]دی همیشه و نا قرار لا ناقرار شو　　دعشق غمو رسره ډیرو ملا مبار شو

ګلدسته په لاس نیولی بیدار ناست و

ترسبا پورې خوشوق ت انتظار ناست و

* * *

۱— د(دو لاس) په ځای په چاپی کې(پاو داس) دی.

د لیلی کور ته د مجنون ورتلل (۱)

چې مجنون له خوبه پاڅېده سبا شو — په کشور د وصال کې ناسته بادشاه شو

تور وېښته شول د شپې جوړ لکه کافور — چې په مخ یې د هوا پیدا کړ نور

خوار مجنون چې هرګز نه کړ مخ و کور ته — په ژړا ژړا روان شو د یار لور ته

د پتنګ غوندې یې خیال و د چراغ — خو یې و خوړ په سینه د لمبې داغ

د آهو چې قضا ورشي لکه باد — د توپک و خولې ته ځغلي د صیاد

دیوانه و، د مستۍ په خم کې رنګ و — که عالم و یشته په کاڼیو څه یې ننګ و

که هلکو به له وروستو ویشت په غونډو — دی د یار د یار ته ځغاست په منډو منډو

دی له خپله توره بخته په ما نه و — که یې و یشت د هلکانو ګناه نه و

نه یې خوب نه یې آرام نه یې قرار شو — خو یې غشي د دیدن په زړه ګوزار شو

هغه ځای چې د لیلی د کور میشته وه — هورته پښه د مجنون څېره خښته و (۲)

لیلی و لیده مجنون څه خو له ورایه — زړه یې بند شو له هسکه شوه له ځایه

۱۰۶] چې بې یاره وه خسته په زړه ملوله — هغه درنګ شوه په خندا خندا مشغوله

وې یې دې که بې ما تل هسې خراب وې — په قیامت سې به و خدای ته څه ځواب وې

له پلو لیلی ښکاره په خندا مخ کړ — خوار مجنون په سترګو ځیر د آشنا مخ کړ

چې مجنون و ته څرګند جمال د یار شو — په ژړا په زړه کې پریوت نګونسار شو

د مجنون احوال یې ولید ګندم ګونې — په سپین مخ یې اوښې تویې شوې ګلګونې

۱— اصل عنوان نه لوستل کیږی.

۳— په چاپی کې (هورته . . . خسته خیره وه) دی.

دێشکارەگلابدزلفو تر هر و لەکڕل   دە لە لرێ پەژ ڕاکسێاو بەکڕل
دا پەکو ر کێ لکە شمع بلید لە   ددە خو الکە پتنگ لەلرێ سو لە
جو نە هم و رسرەناستێ پەپهلو وێ   اشارت کیسێ یێ ستر گو پەابر و وێ
چێ پەشو نهو بەیێ ځانتە ا شارت کڕ   دبو سێ بەیێو یار تەبشارت کڕ (١)
تو رێ ستر گێ یێ چێ کو نج پەکو نجو هلێ   یعنی ناستێ دێ شاغلی چپ شەغلێ
چێ و هلێ یێ دوە ستر گێ پەگو شە   یعنی و تبنتە لە بد و شەگو شە
چێ لیلی بەو رتەز یری دو صا ل کڕ   خو ار سجنو ن بە پەداز یری ز ڕەخو شال کڕ
لیلن ناستە پەخپل کو ر کێ پەخپل سر ای و ە   خو ار سجنو ن تەدهجر ان خواري هر ځای و ە
خو ار سجنو ن پەغم کێ تل تل پەتو بو و   لکە بو تی و چ دگلو بێ او بو و
لیلی نا ستە شگنتە گل خر م و ە   ز یڕەپانە دسجنو ن خبرە پەغم و ە
٧٠١ سخ] لیلی ناستەدخو شی پەحکا یت و ە   دسجنو ن ژ بەگو یا پە شکا یت و ە
کەلیلی بە پە خوشی کی ێ همیشەو ە   دد ەکلە بێ ژ ڕابلە پیشە و ە
چێ لیلی لەدر بچێ نە سر شکار ەکڕ   دفر اق اندو ەیێ بیا پرێ دو با ر ەکڕ
نو ر هغەعز یز سیلمە یێ را طلب کڕ   سر فر از یێ پەبو سەددو اڕەلب کڕ
پە و رو،ورو یێو ر تەحال و دز ڕەسپڕی   وێ یێ تە یێ پەطلب کێ ز ساستڕی
سعذرت یێو ر تەو کڕ لە خپلە ځانە   چێ خبر یێ دهر چا پەحال سبحانە !
زەکە هرخو شکستە او سم بێ یار ە   و لێ خە کڕ م خدای پیدا کڕ م بێ اختیا ر ە
کە هر خو پەغم کێ ستا خو ار ەخستە یم   لکەز لفێ دځان هر ځای شکستە یم
و لێ ستا تر سحنتو نو،نە ر سیڕ م   ز ەچێ ستا وحال تەو گو ر م شر میڕ م
د سڕی خخە چێ نە وي همیا نی   شر سندەوي داشنالە سهمانی (٢)

---

(١) دابیت پەچاپی کێ داسێ دی. (چی پەشو نهو بەیێ خو لێ تەسلا حت کڕ .... اشارت کڕ).

(٢) پەچاپی کێ (شر سندەاو سی دبا ر لەسهمانی)

اختیار نه لري په خپل انګر کې لو نه
حکم وار ه پرې پلر و نه کا یاو رو نه

هرسړی چې پلار و،و رو ر دچار اضي کا
نو ر به خه حجت ملا،مفتی ،قاضی کا

چې اول کړې دباغبا ن رضاحا صله
بیابه هاله میو ه شه و خو ری ای دله

بیايې و وې راشه واو ره ای مجنو نه!
و یره و د ره اند یښنه له سر ګه خو نه

چیری نه وې رقیبان ر اخبر دار شي
زماستا و سر ګ و خو ن و ته تیار شي

۰۸ ا مخ] دوصال میوه هاله په خوښي غواړه
که ر اضي سي عز یز ان کړې خویښان واړه

* * *

د وی په داخو رو خبر وو و ، ناګا
چې رقیب له دې احوا له شو اګا

په ر قیب باندی نو ر پو رې دغم او ر شو
ځان یې در ست په او ر کې و سو ،سخ یې تو ر شو

ر ایې و اخیست دغو صې په لاس شمشیر
غر یده و خو ار مجنو ن ته لکه شیر

نو ر یې تو ر ه کړه مجنو ن و ته ګو ز ار ه
په هو ایې هغه لاس پر یو ت له کاره

په بل لاس یې تو ره و اخیستله سپکه
بل یې هم په هغه شان پر یو ت په ز مکه

چې یې و و تل له کاره لاسه دواړه
نو ر یې کښېنو ه ومجنو ن ته خپله غاړه

وې یې ای کامله! نو ر ز ه تو به ګار یم
ستا په مخ پو رې سر کو زی شر مسار یم

په خبر ه د زاری په عجز کیو وت
په تمام اخلاص په پښو دمجنو ن پر یو وت

چې مجنو ن ته شوې ښکار ه دده زاری
لاس یې و نیول له ډیرې غمخو اری

په ښه زړه یې و ر ته و یل ای و رو ره!
که له چاسره بدې کړې حال یې ګو ر ه

چې نه زو ر ،نه دې قوت وي نه دې سکر
د هغه دبدی سه کو ه هیڅ فکر

که کمزو ری سړی هر څو میړ نی وي
چې سیالی له زو ر و ر کالیو نی وي

لکه لوی کانی هلک کانی دی ځکه
کم به و لي له کلانه ستیز ه کا

راشه مه اخله آزار د هیچا یاره
دسړی آزار عذا ب لري بسیاره

٩ ، اسخ] که دغره له سره پر یوزي هم به ښه شي — که دز ړه له غو نډی پر یو زي ر و غ به نه شي

خدای دې خپله ر ضا ایښې په ز ړه پاسه — ته لا هیڅ نه شوې خبر د ز ړه له پاسه

دسؤ سن د ز ړه په سر دي دخدای ځای — په زو ر سه و ر انو ه ر اشه ځا ی د خدای

دسؤ سن د ز ړه په سر د خدای نظر دی — په ز و ر سه و ر انه و ه ځان ته دې خطر دي (١)

هرسړی سو سي له خپله فعله غم — په و هل داغز ی ځا ن و ژ نې لړ م

خو ک چې و کاندې د بدو خیال انسان ته (١) — دا خپل بد به یې ر ا و جا رو زي ځا ن ته

په اول یې و ر ته و کړ نصیحت — په د عا یې د ر نځ و کړ صحت

دو اړه لاس چې په آز ار د ر قیب شل و و — په دعایې هسې شو ل لکه ا و ل و و

نو ر سجنو ن شکسته حال په ز ړه افگار و — په ژ ړ ا ژ ړ ا جدا له خپله یا ر و

د ر دو غم یې و ر ته پا تو تر حد تیر شو

چې ر ا و ړ ي یې و یو و ر ته لا ډ یر شو

---

(١) دا بیت د چا پی نسخې څخه و اخیستل شو .

(٢) دچا پی د (انسان) په ځای په قلمی کې (جهان) دی.

نوفل بادشاه مجنون و لیدا و دهغه په حال یې

ژړه وسو (۱)

خوار غریب (۲) به‌ولې نه‌او سي خورم   په‌ورقکې دګل (۳) هسې شول رقم
بښه‌سردار نوم یې نوفل دهغه‌وخت‌و   آراسته یې تاج‌و تخت و هم یې بخت و
یوه‌ورځ چې‌دی روان‌په‌نیت دښکار و   ګذرګاه هغه‌ورتګ په هغه لارو
خوار مجنون شکسته‌حال په‌زړه‌خسته‌و   لږګوښه‌څه‌خو، له لارې نشته و
دموښ سړي به‌ولې ژړه پرې نه سو   چې به‌ولیده‌کا فرزړه به یې وسو
سخ] په‌ژړلو یې وې‌سرې ختلې‌سترګې   نوفل و لیده‌مجنون په خپلې سترګې
ونوکرو ته‌یې وویل چې ورشه   په‌احوال ددې خسته سړي خبرشه
چې‌داهسې هډو پوست‌لکه ویښته‌دی   څه‌آزار لري په‌ځان کې حال یې‌څه‌دی
نوکرو رغی شتاب ترسمه تیره   وې‌یې‌و ایه‌حال‌دې‌څه دی ای‌دلګیره
مجنون‌خپل له‌سرګذشته‌ماجرا کړ (۴)   ونوکرو ته‌یې عرض‌دبادشاه کړ
چې‌نوکرو ته‌یې‌حال و اوره معلوم‌شو   وبادشاه‌ته په‌ستنه‌راغی معلوم‌شو
بادشاه‌و ویل‌نوکرته‌چې ده څه وې   نوکر حال‌دمجنون‌و اوره ورته و وې

(۱) اصل عنوان نه‌لوستل کیږی .

(۲) په‌قلمی نسخه کې (وای‌سړی)

(۳) دچاپی د (ګل) په‌ځای په‌چاپی کې (غم) دی .

(۴) ښایی د (ماجرا) په‌ځای به اصلاً (نه‌ګاه) وی‌چې د کاتب په تصرف به (ماجرا) شوی‌وی.

چې نوفل وته ښکاره شوه دده سینه   بادشاه سره کړه په ژړلو گونه سپینه
دی هم بیل له خپله یاره سهینه و   دفراق پرها ریې شوی په سینه و
دعشق حال یې همگی په سرگذرو   په محنت د عاشقانو ښه خبرو
زړله آسه نه راکوز شو، پیاده شو   په تپاک په د لاسه دا فتاده شو
خوارمجنون په زسکه پروت و په یو لنگ کې   رای هسک کړ نوفل کیناوه په خنگ کې
پو ښتیده یې چې ته خوک یې د کوم ځایې   عاشق شوی په جمال حسن دچایې
خوارمجنون چې خندانه کړه بې ژړانه   ونوفل وته یې وویوست له زبانه
نوفل و ژړل په حال دده ای جانه   هر و یښته یې قیمتی و ترسر جانه
[۱۱۱ سخ] وې یې ته یې سینه سوی لکه شمع   اوس له خپله کاره درست کړه خاطرجمع
زه به یاردتا په سوله یا په جنگ کې   سکړه غم، درسره کښېنوم په خنگ کې
له اوله به ستا کارو اره په زر کړم   دالوی کار به ستا په زرو میسر کړم
که سړی ته پیښې چارې شي دشواري   زرته هیڅ دی دد نیاد شوارې چارې
که له زروسره نه کاخوک یاری   نور به وراندی کړم خبره دزاری
که خبره د زاری نه شي منظوره   نور به و نیسم حیله ده و روستو توره
اوس لازم دی چې راوگرځې په ځان   درسته و رځ په باغ کې خو ښ او سه خندان
دانا یانو سره گرځه مشغولا کړه   د کم عقلو مجلسو نو وته شا کړه
ددانا مجلس و هر چاته ثواب دی   دنادان مصاحبت دروح عذاب دی
یو یو څاځکی په باران کې هلک لوی شي   په بهار کې ددریاب په سر راتوی شي
